# اور په چنارونو

پښتو
ورلډ نیټ
Pukhto.net

دیدار طاهر

## ټول حقونه محفوظ دي

د کتاب نوم ________ اور په چنارونو

لیکونکے ________ دیدار طاهرؔ
(0345-9371022)

د چاپ کال ________ ۳ اپریل ۲۰۱۰ء

د چاپ ځائے ________ المظهر پریس بټ خیله

شمېر ________ شپږ سوه

کمپوزنګ ________ بابوالیاس

ټائټل ________ بابوالیاس

بیعه ________ (سل روپۍ ۱۰۰)

## د موندلو درکونه

- یونیورسټي بُک ایجنسي خیبر بازار پېښور
- دفتر پختانه ادبي ملګرې "پام" بټ خېله
- پښتون کلچرل ایسوسی ایشن راولپنډی (اسلام آباد)
- حماد بُک سنټر بټ خېله
- شعیب بُک سنز مینګوره
- دین بُک ډپو تیمر ګره
- رحمٰن بُک ډپو تیمرګره
- شاه بُک سنټر بټ خیله
- مُسلم بُک سنټر درګئي

# ترون

دَ هغه خوګو ملګرو په نوم ځوک چې په ګرده نړۍ کښې دَ امن، ترقي او خوشحالۍ د پاره کار کوي. چا چې خپلې ژبې، ادب او دَ ثقافت پرمختګ ته ځان وقف کړيدے.

**ديدار طاهرؔ**

# سریزه

زهٔ چې اوس هم کله کله دَ خپلې طالب علمۍ د زمانې حالت دَ خپل ذهن په چوکاټ کښې رانغاړم نو ډېر خوارهٔ هم لګی او تراخهٔ هم. خوارهٔ په دې دی چې دغه د بې پراویۍ زمانه وه. معصومان زړونه وو او د هیڅ طمعې او لالچ بالاتر په پُرجوش انداز کښې ورځې شپې تېرېدې. هلې ځلې وې. محبتونه وو، تر ناوخته ناوخته ناستې او کلی په کلی په بدل تلهٔ راتلهٔ وو. دَ کتابونو سره تعلق، د اُستاذانو فرمانبرداری، دَ سکولونو کالجونو پابند او نیم پابند ماحول او دَ دوستانو دَ یارانو خوږوالی وو. نو ځکه وایم کهٔ دغه ورځې هر څومره لنډې او دَ هلو ځلو وې خو ډېرې خوږې او مزیدارې وې. ولې ترخې په دې دی چې وسائل نهٔ وو. د بس سټاپ او کالج په مېنځ کښې فاصله دومره اوږده وه چې عبدالرحمن ډټیر به ورته صحرائے ګهوبی وے. دَ کورونو ځنګه چې ما غوښتل هغه شان کم از کم زما ژوند نهٔ تېرېدو. نو ځکه هغه دَ تریخ والی احساس ئې زهٔ تر اوسه محسوسوم.

بهر حال دا یو اوږد مضمون دے او دَ بحث ګُنجائش لری. خو زهٔ به ترې صرف د هغو خوږو او نازولو یارانو ذکر اوکړم، کوم چې یقینًا د لېونتوب د مستانه کېفیاتو زور لری. دا دَ کالج دَ درځېم او

ځلورم کال د طالب علمي زمانه وه. مونږ دَ يو تريخ او ناترسه جبر دَ تسلسل نه ايله ايله رابهر شوی وو او دَ ژوند د نوی حقيقتونو دَ سېلاب په چپو کښې روان وو. لاس و پښې مو وهل شروع کړی وو. ځنې خبرې چې ځنګه وئيلې کېدے شوې هغه شان عملي ممکنې نۀ وې او کوم عملي تکرار چې اثر انداز وو دَ هغې اِدراک تسليمول ډېر ګران کار او صبر آزما مرحله وه. بهر حال نۀ وخت دَ چا انتظار کوی او نۀ دَ چا مرضی. هاں صرف هغه خلق فائده مند شی چې دَ وخت نذاکتونه اوپېژنی او په ذمه وارۍ سره د خپلې بدنی او روحانی صلاحيتونو استعمال اوکړي.

دَ کالج دا زمانه ډېره دلچسپه دَ نورو خبرو نه علاوه په دې هُم وه چې د سينئير کلاس په وجه کم از کم ما ته د سټوډنټس سره سره دَ خپلو ډېرو محترمو اُستاذانو فکر عارف نسيمؔ صېب، عبدالحق نسيمؔ صېب، غلام يوسف باچا، قيوم باچا او سعدالله جاؔن صېب سره هم د باقاعده او ډېر نزدې تعلق موقع په لاس راغلې وه. ما به د خپل ګائډنس ګروپ نه علاوه دَ کلاج په نورو سرګرمو کښې هم باقاعده برخه اخسته او په دغه حواله مې د ډېرو ملګرو سره تر اوسه کلك تعلق دے.

ديدار طاهرؔ صېب ددغه زمانې په نوو ملګرو کښې زما ډېر خوږمن او د خبرې پوخ ملګرے وو. ما اګرچې طاهرؔ صېب دَ يو کلي او

پښتو ورلډ
Pukhto.net

نزدې محلې په وجه ،خکښې هم پېژندو. ولې دَ کالج په ورځو کښې دا تشه پېژندګلې نوره هم خوږه شوه او په يو نه ماتېدونکې دوستۍ کښې بدله شوه. هسې خو د کالج ملګرتيا يا کلې والۍ يوه خبره وه. ولې زما او دَ طاهرؔ صېب په مېنځ کښې چې دَ رابطې کومه کلکه وسيله وه هغه زمونږ د دواړو د شريکې يو بل خوږ او ډېر اخلاص مند ملګرے حبيب الرحمٰن وو. څوک چې دَ خپل حُسنِ خلق او نفيس طبيعت له وجې په کور او کلې دواړو کښې يو شان مقبول دے. مونږ به دربواړه که کالج ته يو ځائې نه هم تللو خو په واپسۍ کښې به خامخا يو ځائې راتللو او د کلاس نه علاوه به په کېنتين کښې هم دَ بريک په دوران کښې ناست وو. نو څکه دَ څلورو کالو دا مختصره موده کۀ هر څومره ډېره زر تېره شوه، ولې اثر ئې دومره وو چې اوس هم زمونږ دربواړو دغه تعلق هغه شان خوږ او کلک دے. لکه څنګه چې هغه وخت وو.

ما ته دَ کالج په دغه زمانه کښې کۀ هر څومره دَ طاهرؔ صېب سره د نزدې تعلق شرف حاصل وو. خو دَ طاهرؔ صېب دَ شاعرۍ په حواله کم از کم ما ته هيڅ پته نۀ وه. البته دا ضرور وه چې دَ کالج نه دَ واپسۍ په وخت به په لاره لاره کله کله طاهرؔ صېب په خپل خوږ اواز کښې دَ چا دَ غزل شعرونه وئيل او مونږ به ئې دَ ګاړۍ دَ کړاؤ په زحمت نۀ پوهه کولو. زما اندازه وه چې طاهرؔ صېب ذوق خو لرى

ولې وئیل به مې چې کېدے شی دا په خوارلسم کښې د پښتو د مضمون پورې وی او امکان ئې روستو پاتې نۀ شی. خو طاهرؔ صېب خپل دغه پټ ذوق او شوق عملاً د خپلې زندگۍ ملګری جوړ کړل او د بلها مسئلو باوجود ئې د خپل ارمان د تکمیل کوشش جاری اوساتلو.

د طالب علمۍ د مستانه ورځو شپو په اختتام چې مونږ تول لکه د رحمت شاه سائلؔ صېب د خبرې

د وخت ځپېړو یه سائلّه څۀ تالا ترغـــــه کړو

مونږ څه د ناز په خوب اودۀ وو تا ته یاد شی کۀ نۀ

وخت چنګ ونګ کړو او ځوک په انګا او ځوک په بنګا شو. نو روسته د علی اکبر سیالؔ صېب په ملګرتیا کښې طاهرؔ صېب د فن اوږده مزلونه په ډېره تېزۍ سره اووهل او په لړو ورځو کښې ئې خپل کتاب "اور د ګل په شونډو کښې" تاسو ته پېش کړو او دا دے دا ئې بل کتاب "اور په چنارونو" په نوم ستاسو په لاسونو کښې دے. ددې کتاب شاعری یقیناً د تېر کتاب په مقابله کښې بامعنیٰ. پخه او قوی ده. خو بیا هم هغه د سائلؔ صېب خبره چې جلتی پرې نۀ وه پکار.

شاعری چې څومره واړولے شی او څومره چاڼ شی. هغه هومره خوند پېدا کړی او اثر هم. بهر حال د طاهرؔ صېب دا کوشش هم د ستائینې وړ دے او د پښتو ګلستان ته به یو بل ښکلے رنګ اوبخښی.

طاهر صیب یو مخلص انسان دے او دَ ټولو انسانانو محبت دَ هر څه نه همه گیر گڼي. چې پکښې نمر او سحر، گل او سپرلے، دَ چمن حُسن او ښکلا تجلی خوره وی. طاهر صیب وائی

ژاړم دَ گُل سپرلی قیصې کوومه
لکه بُلبل په غنو شپې کوومه
لکه منصور دَ وخت په دار اوختم
لکه ادم سوې تپې کوومه

دَ طاهر صیب استعمال کړی تشبیهات دَ یو ژور احساس خوارۀ لری. دا اِدراک نۀ صرف دَهغه دَ شعری شعور پختگی ظاهروی بلکې دَ مصرعې فنی جوړښت ته دومره زور او دَ رنګ ښکلا بخښې چې دُ اوربدونکی نه ذهن په پرده خپل کلک نقش پرېږدی په دې شعر کښې دَ سترگو په زخمونو کښې دَ پسرلی تصویر او په زړۀ کښې ارمان لکه دَ لبونی دَ خوب دومره پخې خبرې او خوارۀ ترکیبونه دی چې زړۀ هم راکاږی اؤ نظر هم اؤ کۀ ددې شعر معنوی اسرار را اوسپړلے شی نو فکری ترجمانی ئ هم هغه دَ خپل مرگونی وطن علاج او دَ خپل اولس سوکالی او خوشحالی کیدے شی. نو ځکه په زړۀ خوږ او نظر ښکلے لگی. طاهر صیب وائی چې

ـ په پرهر سترګو کښې تصویر دَ پسرلی ګرځـووم
هر یو ارمان په زړهٔ کښې خوب دَ لېونی ګرځووم
نهٔ مې لونګ اوکرل نهٔ مې کر دَ ګلو اوکــــــړو
په اوږو بار هسې بې هیځه مې ځوانی ګرځـووم

طاهرؔ صیب دَ خپل حساس سوچ په دغه چوکاټ کښې چې دَ
وطن دَ زخمونو تصویر ږدی نو ددې بدحالۍ ذمه وار ورته دَ نورو
عواملو نه زیات دَ هغه مشرانو مطلب پرسته کردار هم ښکاری، دَ
کومو په وجه چې نن هم دَ طاهرؔ صیب دَ تصور دَ ښکُلا وطن په خپلو
وینو کښې لت پت لیدے شی. نو ځکه طاهرؔ صیب په ډېر دو توک
انداز کښې وائی چې:

ـ چې مې سر وهی هغه مې سرداران دی
چې مې تن خرځوی دا مې مشران دی
چې دَ چا دَ لاسه مونږ په زړهٔ سُوری شُو
اوس هغهٔ خلق زمونــــړه طبیبان دی

خو طاهرؔ صیب بیا هم دَ خپل وطن دَ سبا نه مایوسه نهٔ دے. او هر
وګړی ته په جار نعرې وهی چې په دې دَ ځان ځانۍ په دور کښې
کوشش کول فرض دی. راشئ چې په شریکه دَ ژوند دا تشه لمن دَ
پسرلی دَ رنګا رنګ ګلونو نه ډکه کړو او دُنیا ته اوښایو چې مونږ هم

په دې نړۍ کښې د ژوندې پاتې کېدو پوره پوره حق لرو. طاهرّ صېب ددې تصور ترغیب داسې ورکوي:

تشه لمن د زندګۍ ډکه کړه
د سرو ګلونو نه جولۍ ډکه کړه

اے ګلالیه شازلمیه د قام
غاړه د ګُلو د سیالۍ ډکه کړه

د طاهرّ صېب ژوند هم څانګړے دے او ارمانونه هم څانګړی لری. طاهرّ صېب د انفرادی هڅو نه بالاتر د اجتماعي خېر ښېګړې په هلو ځلو مئین دے او د دغه هڅو د پوره کېدو دپاره د خُدائے پاک نه په ډېر څانګړی انداز دا څانګړی دُعا کوی چې:

پېغله غوټۍ ګُل مې ځلے اوساته
د تاؤده باده مې سپرلے اوساته

چې سپرلی راشی او ګلونه ګُل شی
دغه ارمان له مې ژوندے اوساته

طاهرّ صېب د ارمان په شان ګیلې هم په منفرد انداز کښې کوی. هغهٔ چې کله د خپل فکر د ښکُلا تاج محل د دوران په لوګو کښې پټېدونکے اووینی، نو زړهٔ ئې وار اونهٔ کړی او ښه په ډاګه د ټولو ذمه وارو نه په جار ګیله کوی چې:

ب سحر دې رانه هېر کړو مازیګر دې رانه هېر کړو
دَ زړهٔ په سر دې اوویشتمه سر دې رانه هېر کړو
قُربان دې زمانې شم دَ عادت او له فطـــــــرته
په داسې ګُل دې ویشتم چې کمر دې رانه هېر کړو

ولې طاهر صیب مایوسه کېږی چرته هم نهٔ. بلکې دَ مایوسی په ورځو شپو کښې یو رښتونے احساس بېدارول خپله فریضه ګڼی او وائی چې:

ما اسوېلے تېـــــــــــه کړو درد مې دَ زړهٔ نغمه کړو
ما په هُنــــــــــر دلاسه پرهر دَ زړه اودهٔ کـــړو
زهٔ خپل ځیګر سوزووم ما خپل نظر لمبه کـــړو
دَ خوږ جانان په خاطــر ځان مې بڼه بڼه کـــړو
لکــه شبنم پـــــه ګلو ژوند مې اوبهٔ اوبهٔ کړو
طاهـــــر دَ ژوند دپـاره ځان ټول ایره ایره کړو

طـاهـرؔ صـېب یـو فطرت شناس شاعر دے. دَ خپلې خاورې دَ ګُل بوټې هم پېژنی او رنګ هم. ددې ځائې دَ مسئلو ادارک هم لری او دَ حـل جـواز هـم پېش کـوی. ټهیک ده چې نـور خلق هم په خپل خپل سمی دَ پـیـچـیدګو ذکر کوی. خو دَ طاهرؔ صېب طاهری نظر چې کوم وسـعـت لـری او کـومـه بنیادی نکته په ګوته کوی هغه یقیناً بلها زور

لري. څکه چې دَ نړۍ هر ذي شعور انسان دَ دغه عالمي فکر قائل کوي او ددې اهميت مني او هغه دا چې دَ علم و هنر نه بغېر ځان نهٔ پېژندے کېږي او دَ ځـان دَ پېژندګلۍ دپاره علم وهنر بې حد ضروري دے. نو څـکه طاهرؔ صېب هم ددغه نکتې دَ اهميت نه خلق خبروي، چې خپل ځان اؤ دَ خپـل ځـان مـقـام په عالمي تناظر کښې اوپېژني. څکه چې دغـه مـرتبـه دَ عـلـم و هـنـر دَ رڼا دَ مشال تقاضه کوي اؤ چې دغه علم وهنر مو راواغِستو نو ډېر لوئے تاج به درته په سر شي. ګني نو انجام به مو دَ ذلت او بې قدرۍ نه سېـوا هيڅ نهٔ وي. طاهرؔ صېب وائي:

تل به زهٔ داسې بې هُـــنـــــره يمه
چې دَ خپل ځان نه ناخـبــــره يمه

په ګل درو کښې دَ ژوند ورکه شومه
ســوې تېـپـه دَ غـــرهٔ دَ سره يمه

طـاهـرؔ صېب دَ روان دور د قومي مبارزې نه مطمئن دے اؤ نهٔ ورسـره اتفاق کوي. بلکې د خپل قامي تشخص د بقا دپاره چې دَ کوم فـکـري او شعوري جدوجهد ضرورت دے هغه ورته ناپوره او ناشونے ښـکـاري. څکه ددغه اړي ګړي په نتيجه کښې په انفرادي او مجموعي طـور مونږ نهٔ صرف په خپل چاپېرچل کښې دَ ذلت ښکار يُو بلکې په عـالمي تناظر کښې هم ډېر نِشت نيمګړے حېثيت لرو. طاهرؔ صېب دغه

بې وزله پښې ته اشاره کوي او وائي چې:

زمکه مو سرۀ کړله په خپلو وينو
ځکه په مونږ پورې اسمان خاندي

په خپلو لاسو مو لمن خيرې کړه
طاهرؔه مونږ پورې ګرېوان خاندي

دَ طاهرؔ صېب دَ کلام مطالعه په مجموعي طور د ملي غېرت، معاشرتي امن، معاشي ترقي او انسان دوستۍ آئينه داره ده. هغه غزل دے اؤ که سندره، نظم دے اؤ که بل صنف، طاهرؔ صېب په هر مېدان کښې دَ ژوند په دغه ضرورتونو دَ خپل خيال نيلے زغلولے دے. خپله نېکه جذبه او بې کچه محبت ئې دَ ټولو سره شريك کړې دی او دَ يو رښتوني شاعر په حېث ئې پو روڼ او کوتلے شعور قوم ته بخښلے دے. دَ يوې سندرې دا بند ئې دَ وطن دَ مينې خومره ښکلے تصوير پېش کوي، وائي:

ستا نظارو ته خپل نظر لوګووم
دَ سرو ګلونو ګلستانه وطنه

ستا په ازغو به خپلې وينې شيندم
زما غېرت زما ايمان وطنه

طاهرؔ صبب دَ پښتنې تهذيب او سوچه مينې ژور ادراك لري او ددغې اثر خوارۀ دَ خپلې معاشرتي زندګۍ دپاره ډېر اهم ګڼي. نو

ښکه اولس ته دا هېر شوے سبق وریادوی چې ژوند څومره قرباني غواړي او دَ ژوند مئينانو دَ ژوند دَ ښکلا دَ ګلزارونو دپاره دَ سپرلو قيمت څه ادا کړے دے. دَ سندرې دا بند څومره معنیٰ خېز دے.

ے تنګ چې به رباب ته کله ورکړو ادم خانؔ
رنګ به دَ دُرخو ورته بدل شو دَ پېزوان
هيڅ پروا ئې نۀ وه دَ دُنيا په سود او زيان
دُرخوؔ چې به سرتوره په دېوال راوختله
ژوند ورته په سترګو کښې خندل

دَ غزل او سندرې سره سره طاهرؔ صيب دَ نظم په مېدان کښې هم نۀ صرف فني مهارت حاصل کړے دے، بلکې دَ نفسِ مضمون دَ نقطه نظر ئې هم داسې مقام ته دا صنف رسولے دے چې دَ پُخته کار شاعر ټول لوازمات پوره کوی.

په دې کتاب کښې ټول شامل نظمونه په خپل ځائې يقيناً چې ډېر خوږوالے او فني پختګی لری. خو دَ شاعر په نوم نظم يو داسې شاهکار تخليق دے چې دَ شاعر دَ اهميت راز پکښې نغښتے شوے دے. طاهرؔ صيب شاعر ته په ډېر لوړ نظر ګوری او دَ خپلې پوهې، صداقت، ديانت او محبت په بنياد ئې دَ کلهم جماعتونو امير ګڼي. طاهرؔ صيب دَ قُرآن پاک دَ سورتُ الشعراء دَ اخری آيت په رڼا کښې دَ حق او محبت منونکي او ويونکي شاعران دَ الله شاګردان ګڼي

او وائی چې دا هغهٔ خلق دی چې دَ ټولو عالمانو فاضلانو سر لښکر او سربالا دی. په دې نظم کښې طاهرؔ صیب دَ شاعر مقام ته ښکلې زړهٔ راښکونکې نسبت کوی.

ے شاعر څه دے ملګرو مصـــــور دَ حقیقت
شاعر هغه هستی ده چې پېکـــر دَ شجاعت

شاعر هغهٔ انسان دے چې شاهکار دے دَ قدرت
شاعـــر هغهٔ فرزند دے چې عظمت دے دَ ملت

دا نور خلق به وی دَ شیطـانانو شاګردان
شاعر چې وی په اصل کښې شاګرد دے دَ رحمن

الغرض دَ طاهرؔ صیب دَ شاعرئ بلها اړخونه دی اؤ هر اړخ ئې ناویاته هم دے او خوند هم. زما په خیال که زهٔ پرې تبصره کول اوغواړم نو شاید چې پوره احاطه ئې هغه شان اونهٔ کړے شم. نو ځکه زهٔ نور په مېنځ کښې دېوال کېږم نهٔ. لوستونکے او دغه خوندوره شاعری سره پرېږدم چې دَ خپل ذوق مطابق ترې خوند واخلی. البته په ټولو ټولو کښې دومره ضرور وایم چې دا دَ ملاکنډ دَ ګل ورینې خاورې بـه نصیبی ده چې دلته دَ یو بل نه خواږهٔ او مړنی لیکوال شاعران شته هم او دَ خېره پیدا کېږی هُم. ځکه په دې حقله ډېر کلك پُر امید یم چې انشاء الله اوس به صرف خیبر څه چې ټوله نړی دَ ملاکنډ نه دَ پښتو غزل اوری. طـاهرؔ صیب هم دَ ملاکنډ دَ نورو

شاعرانو لکه قادرؔی صېب، سائلؔ صېب، صابرؔ صېب، سیالؔ صېب، ناشادؔ صېب صاحبِ دیوان شاعر دے چې دَ پښتو ادب جولۍ ته ئې دَ ګلونو ډالۍ پیرزو کړې دی۔

خُدائے دې دَ دوئ دا سفر دغسې جاری ساتی۔ چې مونږ ټول ئې په خوشبویو معطر یُو۔

چې دَ سحر دَ ګُل وږمې محسوسووم په شپه کښې
لکه په ځنګ کښې راته ډېر نزدې بهار دېـره دے

**مشالؔ راولپنډی**

۲۴/۲/۲۰۰۸

پښتو ډاټ نېټ
pukhto.net

# غوښتنه

نـهٔ درنــه دا دُنيــا فــانـي غواړمـه
نـه درنـه تـخـت سـلـيـمانـيٌ غواړمه

نـه مې لوئ تاج دَ سكندر دے اسرئ
نهٔ مې دولت خوبش دَ قيصر وكسرئ

نــهٔ مې غـوښتنه دہ شدت دَ شداد
نهٔ درنـه غـواړمـه طـاقت دَ فرعون

نــهٔ مې پكــار ده خـدائي دَ نمرود
نــهٔ مې پـكـار دي خـزانې دَ قارون

زهٔ يـو شـاعـر ئمه كهٔ سوال مې مني
مــالــه يـو څـو دَ شـعـور ټكي راكـه

# خوب

زما وېښا په چا آثر نه کوي
زما خبرو ته څوک غوږ نه نيسي
زما ژړا پورې خندېږي خلق
ماته چې ګوري نو پچموزې کوي
زه ټوله شپه ژاړم دَ بل دَ غمه
وينه بلوم دَ رڼ سحر په طمع
دَ مستقبل دَ ژوندون لار لټوم
ټک کوم تل دَ تفکر په زمکه
پښې آبله پښې او سر تور سر روان يم
څمه روان يم دَ منزل په تکل
ځان ته چې ګورمه نو فکر کوم
چې دا دُنيا څه کوي زه څه کوم؟
ما پدې سوچ کښې پرېشانه راواخلي
وئم چې لږ ستړے شوم دمه کومه
خو پهلوان دَ فکر خاندي راته
دَ تخيل فرېښتې لاس مې نيسي
يو راته وائي حوصله مه بائيله
بل راته وائي چې زړه ماتې نه شے
منزل نژدے دے درته لار لږه ده
بس يو څو ګامه دَ خوبو محل
دغه خبرے رابېدار کړمه بيا
دَ ژوند مزل ته ئې تيار کړمه بيا

زۀ غوتمې يمه ماګل که
دَ مصرعې نه مې غزل که

شونډې سرې په دنداسه که
سترګې تورې په کجل که

وريځ جوړه که تيارۀ که
خور دانه وانه اوربل که

لړ پړې وشينده رنګونه
دَ سپرلى انداز بدل که

راشه خواته زما کښېنه
مړاوے ژوند مې شين غندل کړه

لږه وخانده مسکے شه
يخ مې زړۀ سينه ګوګل که

دَ ښائست رنګ پړې پيرزو که
دَ طاهرؔ غزل که



pukhto.net

# بادار

نـهٔ پـهٔ دا دور نـمرود شته
نـهٔ پـهٔ دا دور فرعون شتـه
نـهٔ پـهٔ دا دور هشـــام شتـه
نهٔ خـاقان او نهٔ حامان شته

نــهٔ دارا او ســکـنـدر شتــه
نهٔ يـزيـد شتـه نـهٔ شمر شته
نهٔ څوك بخت پـدا زمان شته
نــهٔ هـغـه هلاکو خان شتـه

بيـا هـم سـرهٔ اوروته بل دي
سرې سکروټې دي وريږي
هـر خوا ظلم زور او شور دے
هـر خـوا سـرې ويني بهيږي

چــې دَ امــن ټـيكـــه دار دے
دَ لستـوني پـټ خـامار دے
چــه طبيــب دَ هر بيمـار دے
دَ ســرونــو خـريـدار دے

هـم سـردار دے هم سرکار دے
دا دَ دې نــړۍ بـــادار دے

گلستان مو خارستان شو
نخلستانمو ریگستان شو

زمونږ امن دَ سکون کور لاړ عراق افغانستان شو
جامعه حفصهؓ قتل گاه شوه لال مسجد مو قبرستان شو
هر مکتب مو ړمه ړولا هر یو ښار وزیرستان شو
هر خوا بم ، توپ او ټوپک دے هر ډگر بارودستان شو
یو ټوپک زمونږ راجا دے ملک مو لاړو راجستان شو
ټول دَ یو بل دشمنان شو کور کوڅه مو یاغستان شو
چرته لاړ شو چرته پټ شو کټ پوزے هم مرگستان شو
دَ جنت نه ښکلے سوات هم دَ گلونو گورستان شو

نامه څه ورکړم طاهرهؔ؟
ټول وطن اجلستان شو

# سندره

جانان خفه دے رانه تلے کۀ پۀ پخلا شي
یقین مې نـۀ کیږي چې راشي
نامه چې اورم دَ بېلتون وار مې خطا شي
یقین مې نـه کیږي چې راشي
ښائسته جانان راتـه یادیږي
ډېر مې پۀ سترګو کښې ګرځیږي
زړۀ مې درزیږي چې ساعت رانه جدا شي
یقین مې نـه کیږي چې راشي
کـارغـۀ نـعرې وهي جـانـانـه
نـور صبر نـۀ کیږي زمانـه
رَبّ دې راستون که چې پوره مې مدّعا شي
یقین مې نـه کیږي چې راشي
د خوګ اشنا سندرې وائیم
پـدغـه فـکـر پـۀ سودا یم
کۀ مې دَ خوږ زړګي داغونه پۀ خندا شي
یقین مې نـه کیږي چې راشي
طـاهـرؔ زما دَ سترګو تور دے
وران مې دَ زړۀ ورپسې کور دے
اوښکې جرګه ورلـه لیږمه کۀ پخلا شي
یقین مې نـه کیږي چې راشي

څوک د اشنا د زلفو ول لټوي
څوک د یار زلفې او کاکل لټوي

قربان د هغه لېونو نه شمه
چې په خارونو کښې هم ګل لټوي

څومره ښائسته ښکاري د ژوند میئنان
پښې آبله ګرځي خپل منزل لټوي

د ژوند د ناوې د سینګار د پاره
ګرځي په دشته کښې ځنګل لټوي

څوک د فرهاد غوندې تېشه په لاس کښې
په غرونو ګرځي خپل اجل لټوي

د ملاکنډ په دنګو غرونو ګرځي
طاهرؔ په کانړو کښې غزل لټوي



pukhto.net

ستا په کوخه او ستا پهٔ لار تېر شوم
دَ مرګ پهٔ خُلهٔ کښې ووم پهٔ دار تېر شوم

جانانه ستا په تصور کښې لاړم
دَارمانونو پهٔ مزار تېر شوم

خالونه ستا اور ورکي غوندې دي
دَ شړو بخرو پهٔ انګار تېر شوم

جانانه ستا دَ سر لوړې پهٔ خاطر
دَ خپله سره څو څو واره تېر شوم

دلبره ستا درشل ته راغلمه خو
زهٔ پهٔ سرونو دَ اغيار تېر شوم

طاهره ګل شومه غزل شومه زهٔ
ستا دَ يادونو پهٔ ګلزار تېر شوم

pukhto.net

د انسانانو په ځنګل کښې اُوسو
خدايه په غېږه دَ اجل کښې اُوسو

رقيب زمونږه په تکل کښې مدام
مونږه دَ يو بل په تکل کښې اُوسو

دَ ځان دَ سر دَ قيمت نهٔ يو خبر
د سوداګرو په منګل کښې اُوسو

دَ محبت زړونه مو دل دوبے شو
څهٔ دَ هاتيانو پهٔ غوبل کښې اُوسو

دَ اشنايانو دَ تهولکې اووتو
دَ رقيبانو پهٔ محفل کښې اُوسو

طاهره درد مو دَ ازغو سوزوی
څوکه دَ سرو ګلو پهٔ تل کښې اُوسو

رقیب راته پیدا کړۀ په کورونو کښې کورونه
حالاتو راته جوړ کړۀ په اورونو کښې کورونه

مونږ خومره سادګان یو دَ خپل زړۀ کور مو جوړ نکړو
اغیار مو جوړوی په آسمانونو کښې کورونه

زمونږه ګلستان مونږه دَ غنو خالي نۀ کړو
لګیادي خلقو جوړ کړۀ په ګلونو کښې کورونه

دا خلق مونږ دَ خاؤرو دَ کوډلو نه وباسي
ورکړي مونږه خلقو ته په زړونو کښې کورونه

شاعرئمه فنکار یمه طاهرؔه نور څۀ نشته
راځه چې ځانله جوړ کړو په شعرونو کښې کورونه



پښتو
Pukhto.net

# نظم ځکه چې

خلق سپوږمۍ ته لاړه ژوند لټوي
مونږ که ژوندي يو خو په مړو حساب يو

څوک د مريخ په سينه وګرځېدل
مونږ چې په زمکه ګرځو هم خوئېږو

خلق د مرګ د کومې هم را اُوځي
مونږه تېوخلى، تبى ته پښي غزوو

خلقو چې د سمندر قابو کړي
مونږ د سيلۍ د هوا زور نه لرو

ځکه چې

مونږه پخپلو پښو لا نه يُو ولاړ
مونږه د بل په ستر ګو لاره ګورو

مونږه لا هغسې يو ښکار د وهم
مونږ يو تر اوسه غلامان د رسم

# غـــزل

مونږ په يواځې سرمات کړےدے سنګر د اغيار
مونـږ تل پـه شـاتـه تمبولےدے لښکر داغيار

زهٔ پخپل سر باندې بې سَره اغيار څنګ اُومنم
مونږ پهٔ سرونو لوبې کړې دي اکثر د آغيار

ما بـا يزيد لوستے ملګرو خوشحال خان لَولمه
سر به مې پرې شي تيټ به نهٔ شمه په درډَ اغيار

د فريـد خـان او ابدالی قيصی مې هېرې نهٔ دی
مونږه تل څلی ودرولی دی پهٔ سَر دَ اغيار

طاهـره اوس هـم د تـاريخ پاڼو هېرکړې نهٔ دی
زمـونـږ د لاسـه وی تـالاوالا دفتـر د اغيـار



پښتو Pukhto.net

سپرلی د ارمانونو سره ګلان دَ ارمانونو
وريږي مې پهٔ زړهٔ باندې باران دَ ارمانونو

خِرد رانه سامان د ژوند يوه پهٔ يوه يوړو
جنون راته راجمع کړو سامان دَ ارمانونو

يو تار دَ يار دَ زلفو هم پوره دے پرہے بس دے
راتول به کړم پرې ځان خپل له ګرېوان د ارمانونو

خور وور تورتې تورتې زړګے مې جمع کړو ملګرو
زهٔ اوس آبادوُم ځانله مکان دَ ارمانونو

هغه به کوم ارمان وی چې زما به پوره نشي
چې ناست مې دی پهٔ خوا کښې خپل ياران دَ ارمانونو

طاهره لرې نهٔ ده چې پهٔ هر لوری سمسور شي
سپرلے د ارمانونو ګلستان د ارمانونو



پښتو ډاټ نېټ pukhtoo.net

مخ دَ رقیبانو لور ته مهٔ نیسه
داسې مې جانانه اور ته مهٔ نیسه

ما سره دَ ضد خبرې مکوه
ما دَ زمانې پېغور ته مهٔ نیسه

ما ته دَ وصال قیصې کوه
خوږ زړهٔ مې دَ هجر زور ته مهٔ نیسه

زهٔ درنه تپوس ستا دَ مئین کوم
لاس دَ غمازانو کور ته مهٔ نیسه

رنګ مې تښتېدلے نظر سوے دے
ما دَ خپل اشنا انځور ته مهٔ نیسه

یه طاهرهٔ زړه به دې سوړے شي نور
غوږ مې دَ پانزیبو شور ته مهٔ نیسه



پښتو ډیجیټل لائبریري pukhto.net

چاکه د حُسن دَګل فم سره یاری کړېده
مونږ په قدم قدم دَ زغم سره یاری کړېده

چاته به څهٔ کوو قیصې دَسترې سترې ژوندن
مونږه ټول عمر دَ ستم سره یاری کړېده

ځکه خو هر وختې مو سرمات وی په سرو وینو یو
مونږه دَکاڼی دَ صنم سره یاری کړېده

خوشحالی ټولی مو لیکلی د یارانو په نوم
مونږ دَ دردونو دَ موسم سره یاری کړېده

دا ستا دَلاری دَکوڅې ستم په سر او سترګو
جانانه ما خو ستا دَ چم سره یاری کړېده

کله خوشحال کله ملال دغه ګنهلے شی ژوند
مونږه دَ ژوند دَ زېرو بم سره یاری کړېده

اوس خو ترې کار دَ توری واخله چې پښېمانه نه شے
طاهرَه تاچې دَ قلم سره یار کړېده

پښتو
ukhto.net

خپلـه ځـوانی او خـپل نـظر لوګوم
دَ مستــقبـل دَ ژونــد ســکون لټوم

خــلق دَګــلـو مئين ګل شکلوی
ځـمـا نصيب خــارونه خــار شکلوم

زهٔ دَ ژونـد نـاوې تـه پـهٔ لور دَ منزل
څـهٔ بـخـتـورلیمـهٔ زړګـے غـوړوم

دَګــلــو کــر کــوم شـکـلا کــرمــه
دَ نـفــرت زمکـه کښــې الفت ټوکوم

طــاهــرهٔ نوراور اورکـی نـهٔ نيسم
اوس بــه دَ ستـورو نــه جـولی ډکوم



پښتو
Pukhto.net

# نظم

زۀ خوشحالی او اختر نۀ پېژنم
ما مطمئن کړئ چې زۀ پوهه شمه
اې د نظر او دَ شعور وګړو
تاسو پدې مسئله غور وکړئ

یو وه خبره درته سپینه کوم
د تضاداتو نه بېزاره یمه

د یو بربنډ پښه تن جامې چې نۀ وي
چې د یتیم په سر ټوپۍ نۀ وینم
چې یو غریب چرته پښې آبله وي هم
د چا نهر لاس کښې ډوډۍ نۀ وینم

دې خوشحالۍ ته خوشحالي نۀ وائم
داسې اختر ته زۀ اختر نۀ وائم

○

جانانه ما دَ سترګو د تکرار سره آشنا که
دا زړه مِ لږ د مینې د انګار سره آشنا که

خزان دے او ازغي دي او زما سپېره لمن
قسمته چرته ما هم د بهار سره آشنا که

خبره چې شوه سپينه عقل پټې کړلې سترګې
اے عشقه راشه ته مې اوس د دار سره آشنا که

دا دومره وسوسې بے قراري او بے صبري
زړګيه لږ خو ما د انتظار سره آشنا که

سنګين بانړه دي پوئے کړه ستا د سترګو بلا واخلم
پرهر مې د خوږو سترګو د وار سره آشنا که

موندل آب حيات به دومره ګران په لټون نه وي
اے خضره ! ته خو ما د هغې لار سره آشنا که

طاهرؔ خو دې د زوره د تېرو بېخو خبر شو
پرهر ئې اوس د زلفو د يو تار سره آشنا که

پښتو ورلډ نېټ
Pukhto.net

# غـــزل

د دائرې نه چې بهر شوم کوروکر شومه آوتر شوم

د عوې تهولې مې عبث شوې نهٔ لیمهٔ شوم نهٔ نظر شوم

پهٔ غالب باندې خفه ووم د غالب نه زهٔ بدتر شوم

د خېبر نه چې رخصت شوم د خاطر سره نوکر شوم

د رنها تیرې تر مینځه نهٔ سحر نهٔ مازیګر شوم

لکه غر ورنړېدمه لیونے شوم قلندر شوم

ددې وران جهان طاهره په آخره کښې افسر شوم



پښتو ژباړ Pukhto.net

# سندره

د سترګو توره د زړۀ سره مسافر لالیه
یه د زړۀ سر لالیه. اختر له راشه

ستا دَ هجران سندرې وایم
څۀ دَ ارمان سندرې وایم
دَ خپل جانان سندرې وایم

اوس دَ همځولو سره زۀ هر مازیګر لالیه
یه دَ زړه سر لالیه. اختر له راشه

هر مازیګر دې یادوومه
ستا دَ راتلو دُعا کوومه
د هجر شپې صبا کوومه

ستا د راتلو لاړې څارمه هر سحر لالیه
یه دَ زړۀ سر لالیه اختر ته راشه

ګرانه راتله دې بختور شه
دَ هجران شپه مو سحر شه
شپه مو شوقدر ورځ اختر شه

ستا نه لوګے ستا نه قربان په هر نظر لالیه
یه دَ زړۀ سر لالیه اختر لا راشه

طاهره تۀ زما جانان ئې
تۀ زما سیورے دَ ارمان ئې
تۀ مې د خوږ زړګی درمان ئې
زما ژوندون ئې زما خان ئې
زما زړګے زما نظر زما څیګر لالیه
وۀ دَ زړه سر لالیه اختر لا راشه

پښتو pukhto.net

# شاعِر

شاعِر څهٔ دے ملګرو! مصَور دَ حقیقت
شاعِر هغه هستي ده چې پېکر د شجاعت

شاعِر هغه اِنسان دے چې شاهکار دے د قدرت
شاعِر هغه فرزند دے چې عظمت دے د مِلّت

تګان د زمانې مو د نفرت په لارو بیائی
شاعِر راته قبصې کوی د مینې محبت

هر چا رانه پټ کړی دی رنګونه د ژوندون
شاعِر راته خودلی دی رازونه دَ حِکمت

مُلا راته اکثر کړی قیصې د دوزخونو
شاعِر یَو ګزخولی په کوڅو کښې د جنت

ظالمه خود غرضی راته څهٔ بل څهٔ بل څهٔ وائی
شاعِر دے مدرّس دَ همدردی او صداقت

د دېرو شریفانو شرافت راته معلوم دے
شاعِر دے چې پوهیږی په نقطه دَ شرافت

تسبیح په لاس شېخان کړی په زړهٔ یَؤاو په خُله بَله
شاعِر دے یو عالِم د فلسفے د عبادت

شعرونو مو په زړونو کښې جذبې دی لړزولې
شاعِر راله جوړ کړی تقدیرونه دَ اُمت

دا نور خلق به وی د شېطانانو شاګردان
شاعِر چې وی په اصل کښې شاعِر دے دَ رحمان



pukhto.net

# غــــزل

ستــا د نـظـر سـوی اورونـه غـواړي
پــرهــر زړګــے مــې ټـکـورونـه غـواړي
ستـا د مـئيـن خـومره ساده ارمان دے
ستـا پـۀ مړوند باندې خوبونه غواړي
سپـرليـه راشـه چې سـمسورشي وطن
ســاده جــانــان رانــه ګـلونـه غـواړي
د زړۀ بلبل مې داسې نۀ صبربږي
ستــا د خوږو زلفو تـالونـه غـواړي
طــاهـره ګوره د جــانــان غـوښتنه
پـه زنـه شـنـه دَ ناز خالونه غـواړي

# پښتون ته

ډيـرې مـې واؤريـدې دعـوې دَ خـلقو
ډېـر تـقـريـرونـه او بحثونه داسې
ځـان مـولـوګـے کـړو سپيلنے پښتوته
مـونـږ پـۀ هـر حـال ددې پـالـنـه کوو
مـونـږ کـۀ نيم يو او کۀ نيم نۀ يو خلقه
ددې خـدمـت بـه تـل دَ زړۀ نـه کـوو
خـو ډېرا فسوس دے چې نوئ څۀ چل اوکړو؟
دغـه تپـوس زمـا نـه مـۀ کوئ څوک!



pukhto.net

# زۀ هغه ځلمے ..............

زمـا سـر هم زمـا سر دے
زمـا تـن هـم زمـا تـن دے

دَ ژونـدی ضمیـر خـاوند یٔم
دَ بیـنـا شعـور بـنـده یٔم

ظلـم زور زغملے نـۀ شم
ننګ نـامـوس زما فطرت دے

زۀ درویـش یـم قـلـنـدر یم
زۀ پښتـون یـمـه خـود دار یم

سـر بـه ښکتـه چـاتـه نکړم
دا غـیـرت دا مـې ایمان دے

خـود داری مـې وظیـفـه ده
دَ خـودۍ پۀ تـال کـښې زانګم

غـلامۍ نـه مې نـفـرت دے
دَ آزاد احسـاس سـخـتـن یم

چې دَ هـر چـا بې پروا دے
چې هَـر چـانـه بې نیـازه

زۀ هـغـه ځلمے سـر کشـه
زۀ هـغـه ځلمے بـاغـي یم

خښـلـی مـې شـراب دی تـږے دَ جـانـان یـم
یـو ګـنـاه مـې کـړے دے بل پسې روان یـم
زۀ نشتـر د اوریـم زۀ پـرهـر د میـنـې
زۀ پـخپـلـه درد یم زۀ د ځـان درمـان یم
ستـا د نـظـر تـاؤ دے سـوز زمـا د مینې
څـوک زمـا قـاتـل دے زۀ پـۀ چا تـاوان یم
یـو رسـی د دار ده بـل خـوا دَ یـار زلفې
زۀ پـۀ چـا مـئین یم زۀ دَ چا جانـان یم
نـه نـظـر د وصل نـه کـرم د مینې
پـانـې پـانـې پـروت یم ګل دَ بیابان یم
تـار تـار مې ګـرېوان دے خیری مې لمن ده
روغ کـۀ لېونے یم زۀ طـاهـرؔ حیران یم

# قطعات

ماته چې نهٔ وائی زما او تا ته ستا حالونه
څنګه به اُووائی دُنیا ته دَ دُنیا حالونه
طاهرَه تلَه او آئین دَ اعتماد نخښې وې
اوس خو هغه هم چاته نهٔ وائی ریښتیا حالونه

پښتو ډاټ نیټ
pukhto.net

زما نیاز بډ بچی کړکنی خوری ممانی هم خوری
وړی وا به خوری چه څوک وړی شی نو پانی هم خوری
خلقه د سرو زرو بیسکټ خوړل خبره څه ده
زمونږ د قام مشران وسپنی خوری کانی هم خوری

# سندره

زما وطنه په ما ګران وطنه
زما ځیګره زما ځان وطنه

ستا نظارو ته خپل نظر لوګوم
د سرو ګلونو ګلستان وطنه

ستا په ازغو به خپلي ویني شیندم
زما غیرت زما ایمان وطنه

ځيري لمن به هم قربان کړم لتا
ستا نه لوګے زما ګریوان وطنه

زه یو شاعر یمه مجنون یمه ستا
ته مي لیلیٰ ته مي ارمان وطنه

طاهرؔ دي تل په غوځه ژبه ستائی
د قدر ورئی قدردان وطنه

# نظم زاري

د غمونو سلسله دې نوره بند که
بس کړه نور دا مات زړګے راله پېوند که

د صديقؓ، فاروقؓ، غنيؓ، حيدرؓ لۀ رويه
د اذان غږ مې بلالؓ غوندې بلند که

تا ته پته ده چې زۀ هغه سر باز يم
زۀ محمود يم ابدالي يمه اياز يم

داسېنه، ذهن، نظر راله صفا که
هغه تلے حشمت بيا راکښې پيدا که

پسه نه ده خو لړ زنګ ده زما توره
ما راخستې ستا په ننګ ده زما توره

بيا واپس راله دَ تېر دور قوت را
پدې مړو متو کښې بيا هغه طاقت را

چې زما دَ وجود زور بېرته محکم شي
ستا نامه به بيا خوره په کل عالم شي

پښتو
pukhto.net

# غزل

نن دَ خپل زړه درزا ته غوږ نیسمه
دَ خپل ارمان ژړاته غوږ نیسمه

پرېږده چه وران مې کړی دا پاتې زړګے
لږ د جانان خندا ته غوږ نیسمه

ماته قيصې ستا دَ يادونو کوی
چې دَ سپرلي هوا ته غوږ نیسمه

وئيم که زما دَ ژوند سندره وائی
چې دَ بلبل نوا ته غوږ نیسمه

طاهرۀ خوب پۀ سرو سکروټو راځی
چې دَ بنګړو شرنګا ته غوږ نیسمه

چرته کهٔ خار چرته کهٔ ګل تهوکیږی
واړه د وینی پهٔ بدل تهوکیږی

خزان چې خپله سرداری پخوی
ازغی به زړهٔ کښې د بُلبل تهوکیږی

بے شکه ته چې کوم ځګی ته ګورے
هلته به بوټے دَ کاجل تهوکیږی

زهٔ چې دا ستا ځوانۍ ته وګورمه
پهٔ تخیّل کښې مې غزل تهوکیږی

چرته چې سرې وینې شی توئی دَ عاشق
طاهره هلته سَرهٔ سنبُل تهوکیږی

پښتو ورلډ pukhto.net

چې تقدیرونه د سحر بدلوي
هغه سړې اکثر نظر بدلوي

ما ته زما د تقدیر ښه پته ده
دې به په خاورو زما ذر بدلوي

دَ خپل مطلب دَ خپل مقصد د پاره
دلته به څهري خلق اکثر بدلوي

داسې نهر مې په دُنیا لیدلی
چه په کرت کانړو هم گوهر بدلوي

د دورنگی دُنیا دورنگه مخلوق
دَ خپل ضمیر غوندې ځان ژر بدلوي

طاهرّه تیر شو هغه تیر وختونه
اوس خلق زړونه په هُنر بدلوي

پښتو ډاټ نېټ pukhto.net

# ځلمی ته

رابېدار که خپل مِلّت دې له غفلته
که نامه دې ژوندۍ، غواړې ترقیامته

دادې وخت دے سترګې پرانیزه بیدار شه
دَ جهان سیالی پکار ده له حِکمته

دَ فطرت دَ اِشارو سره بلد شه
ابدي ژوندون که غواړې بے تهمته

دَ تدبیر په نیلی سور همت پېدا که
بناکړه طمع دَ تقدیراو له قسمته

که دِ سختـه پری دَ مرګ هم اسانیږی
که دې پلا روی ځان ته ژغوره له منته

چې په وخت دَ زخمت چرته پرېشان نه شې
طمع چری قطع نکړی له رحمته

که دِ پریستو ورته ځان نو دامې واوړه
خلاص به نه شې بے زحمته له افته

دَ طاهر بدن له روح ځنې بېزار دے
چه لوګے نه شو په جار دَ محبته

ښائسته چې ګل او ګلستان ښکاری
دا راتــه سيورے دَ جانــان ښکاری

سينــه مې ېکـه دَ رازونو شــولـه
اُوس راتـه ېېر نزدې اسمان ښکاری

چې آئينےتـه ګـورم تـا وينمـه
ستا پۀ ککو کښې راته ځان ښکاری

اِنسان هغه چې لری خوئی د انسان
هسې خو هر سړے اِنسان ښکاری

مـونږ کـۀ شعـور عقل او پوهه لرو
پۀ يوه زره کښې ټول جهان ښکاری

طـاهرؔه زه چې ځـان تـه فکر وکړم
دَ خپل زړګی محل مې وران ښکاری

خوشی کوځې وې ستومانی وه محفلونه نه وو
مینه چه نه وه مئین نه وو سوی زړونه نه وو

زه په زړو سترګو په هغه لارو بیا راغلمه
هاغه مالیار هاغه ګلشن هاغه ګلونه نه وو

اوس به دا راز دَ زمانې دَ سترګو څۀ پټوم
زړه مې سوے وو خو پۀ شونډو مې پاړونه نه وو

هم رقیبان هم حاسدان وو دُښمنان د مینې
خو په مئین زړونو کښې داسې دیوالونه

مئینان پیر وو خو منصور او فرهاد چرته نه وو
هغه مجنون هغه لیلیٰ هاغه دشتونه نه وو

اوس دَ نفرت او محبت په نقطه ورسېدم
دلته جونګړې وې زړګیه محلونه نه وو

پرون طاهرؔه چې ئے ستا لمن ریښې ریښې کړه
نن مې لېده چې دَ یارانو ګرېوانونه نه وو

# سندره

سپرلے راخور شو په وطن حالات بدل شو
گل شو د شړشم گلونه گل شو

گلونه گل شو د غانتيولو
خوشبو د عطرو د پُلپلو
هر خوا اتڼ دے د همځولو

هر خوا په للمو کښې تيکيږی سره سنبل شو
گل شو د شړشم گلونه گل شو

خيال د صنم پکښې زنگيږی
گلونه هم پکښې زنگيږي
مست شو موسم پکښې زنگيږی

تهالونه جوړ چې د خوبانو د اوربل شو
گل شو د شړشم گلونه گل شو

طاهره تهول وطن سمسور دے
بلبلو هم جوړ کړے شور دے
آباد زما د زړگی کور دے

چې په خندا مې ورته توری د غزل شو
گل شو د شړشم گلونه گل شو



pukhto.net

# سوال و جواب

س)
سوال مې اوکړو دَ الله نه
اې زما پروردګاره

په تیر وخت کښې داسې نۀ وم
زۀ بې وسه بې اختیاره

زۀ خاوندوم د ملکُونو — دَ تختونو د تاجونو
اوس پرېشانه یم حېران یم — خوار وزار یمه بې یاره
زۀ خو هاغه ستا بنده یم — تابعدار یم صبح وشام
زۀ واپس ئې درنه غواړم — ماته راکړه خپل مقام

ج)
یو اواز مې شو تر غوږه — وې غوږ ونیسه اُوس ماته
چې بې شکه داسې نه وې — تۀ بې یاره بې اختیاره
تۀ بې شکه چې مالك وې — دَ تختونو دَ تاجونو
بادشاهي وه ستا کلهه — هم په غرونو په سیندونو
خو تا خپل ځان نه کتلې؟ — چې تۀ غواړې خپل مقام
خپل عمل ته فکر وکړه — فکر وکړه په کردار
ته دهوکه شولې نادانه — چې تا پرېښوه خپله لاره
تۀ زمانه چې ویزار شوې — زۀ لۀ تا شومه ویزار

پښتو ورلډ
Pukhto.net

نـهٔ زهٔ لعل يمـه نـهٔ کـانړے نهٔ کمر
چې لـرم پـهٔ سر کښې عـقل نـهٔ هنر

پـــهٔ قـدم قـدم تيـارهٔ او تـــرږمے دے
نـــهٔ مـو عـــقل رهـنما دے نـــهٔ نظر

تذبذب کښې دَ تيارو او رڼا ګېر يو
نـــهٔ دَ شپے نـهٔ شوَ خبر نه دَ سحر

پوخ ايمان يقين فرهاد غوندې پکار دے
مـزه نـه کــوئی ژړا پــهٔ سـر دَ غـر

نــهٔ دَ مينے دَګلاب خـوشبـو لــرمه
نـــهٔ تــوښه راسـره شتــه دے دَ سـفر

دَ مـنـصـور او دَ سـقراط عقيده غواړم
ژوند مې خوښ نه دے طاهرؔه بے خبر

څوک مسته ليونۍ ده چې خالونه ږدی دَ اور
زما پـه سوی زړهٔ باندې داغونه ږدی دَ اور

دَ سترګو د خماره ئے لمبے راپورته کیږی
په سپورو خورو زلفو کښې ګلونه ږدی دَ اور

منزل د لاروی نه خپله لاره خطا نه شی
پـه هر قدم چې مخکښې مشالونه ږدی دَ اور

یو ځل به دغه واړه فاصلې یوه لمبه کړی
پـه لوری دَ منزل چې قدمونه ږدی دَ اور

شاید چې دَ طاهرؔ نظر کښې هم رڼا پیدا کړی
زما پـه پټو سترګو چې لاسونه ږدی دَ اور

پښتو زړاے نیټ
Pukhto.net

زلفې په مخ چې دَ دلبر خورې شوې
سمې تیرې مې په نظر خورې شوې

دامې نیاز ښېنې اوښکې اووریدې
که ملغلرې د مرمر خورې شوې

زما او یار تر مینځه تېولې ګیلې
رقیبه واره ستا په سر خورې شوې

سپرلے راخور شو سره ګلونه ګل شو
که پېغلې ځونه په ګودر خورې شوې

د ژوند ارمان به عزونې اوکړې
که دا وریځې دَ خطر خورې شوې

دا ستا دَ حسن لمبو ووهلم
که مې سکروټې په ځېګرخورې شوې

طاهره ستا د پاکې مینې قیصې
د ښائستونو په سورغر خورې شوې

pukhto.net

لاړم نـظـر دَ زمـانـي يـوړم
کهٔستـا نېمگړې يـارانې يـوړم

پـوره مې نـهٔ شـوله قېصه دَ مينې
خپلې نېمگړې افسانې يوړم

مـا خـو دَ مرگ سـره تـنـدے وهلو
دژونـد غـمـژنې تـرانې يـوړم

مـا وئيل بيا به پرې اعتبار نهٔ کوم
بيـا ئې نيـازبينې بهانې يوړم

ماوے دَ شمعې پهٔ خير ژوند به کوم
خـو يـو نـظـر دَ پـروانې يـوړم

دا ستـا نـظـر وو کـهٔ مستې دَ مينې
زهٔ ئې پـه لـور دَ ميخـانـې يـوړم

طـاهـرہ ډير م وئيـل گېر به نه شم
آخـر دستـور دَ زمـانـې يـوړم

# نظم
# زيري

لاړم والوتم طوطي شوم زهٔ سرکش شومه باغي شوم
هيڅ پرواه مې خدائيګو نشته کهٔ لمبه شوم کهٔ ستي شوم
غلامي مې خوښه نه دهٔ زهٔ ويزار دَ غلامئي يَم
د پنجرے به څه ژوندون وي زه خائست دَ زندګئي يم

زما زړه کښې دا ارمان دے چې دا خومره ويړ جهان دے
پهٔ دا دومره ويړ جهان کښې هم پهٔ زمکه پهٔ اسمان کښې
زهٔ دَ ژوند سندرې وائيم خائستونه دَ ژوند ستائيم

چې بيدار کړم اودهٔ ژوند يو سم ستړګو ته خوبونه
راتېرې تيولې رنا کړم پکښې بل کړم مشالونه
صحرئ هم ګل و ګلزار شي دا سوخته جهان يو بڼ شي
بيا پهٔ بڼ دَ خوشحالۍ کښې فضاګانو دَ مستۍ کښې
ټول جهان پهٔ ننداره کړم دَ اواز خوارهٔ خوارهٔ کړم
هر خوا امن شي سکون شي نامه ورکه دَ ښېلتون شي
دا جهان يو ګلستان شي
او پوره زما ارمان شي

ديدار طاهر

نن پکښې خبر دے دا خپل سر ماتوم
خو د رقيب د کور به ور ماتووم

لکه فرهاد دَ شيرنۍ په خاطِر
د خپل ارمان د پاره غر ماتوم

زه يم بچے د روهيستان دَ غرونو
زۀ په يوه توره لښکر ماتوم

بے اتفاقۍ مې متې شلې کړلې
کنې په کوتو کښې زۀ ښکر ماتوم

افسوس هغه مې سر په کانړو ولې
زۀ چې دَ چا د پاره سر ماتوم

زما په خُله دي دَ پښتو سندرې
زۀ په يوه ټپه سنګر ماتوم

طاهره وايه پښتنې غزلې
پښتون لالی له پرې نظر ماتوم

دَ زړه پـه دشتـه مې یـادونـه دَ جـانـان وریږي
کـۀ پسرلے شـولـو دَ سـرو ګلو باران وریږي

زۀ هم دَ خپل ګرېوان سنګار پۀ خپلو اوښکو کوم
ستـا پـه لمن باندې کۀ ستورې د اسمان وریږي

ستـا دَ جمـال پـۀ ننـداره یـم وسوسې واخستم
ستا دَ ښائست رنګ مې دَ وران زړۀ پۀ مکلن وریږي

چـه ئے دَ فکـر پـه لمبه غبږه کښې پورته یوړم
اوس مې رنګونه دَ شعور پۀ لامکان وریږي

نـۀ ئې د سرو سترګو پروا نۀ ئې احساس د فنا
شبـنـم چې خـانـدي دَ ګـلـونو پۀ ارمان وریږي

طـاهـرۀ دغـه یـو احسان د پـسـرلي بـه مـنـے
دا چـه رنـګـونـه نـن پـه دشت او بیابان وریږي

دَ ګل پـۀ شو نډو چې مُسکا خوره ده
رنګ راوریـږی او ښـکلا خـوره ده

ښـکـاری چې نمر دَ نیمی شپې وختو
پـۀ تـرږمو کښې چې رڼا خوره ده

ستـا دَ اور بل قبصـه چې عامه شوله
یـوه تیـاره ده پـۀ دُنیـا خـوره ده

پـۀ کـوم دلیل مې زړۀ راجمع کړمه
ستا چې پۀ سرو شونډو خندا خوره ده

طـاهـرؔ خـنـدا پـه کومو سترګو وکړی
د زړۀ پـۀ چـم کښې ئې ژړا خوره ده

# حالات

عجيبه غونډې طوفان دے    هر خوا لوټ مار دے تاوان دے

هلته اوښکې دلته اوښکې    دا مو څرنګه ګزران دے

هلته وينې دلته وينې    چې دا کور که ګورستان دے

عجيبه غونډې دُنيا ده    عجيبه غونډې اِنسان دے

دَ سرو ګلو څهرې زيړې    قتل ګاه که ګلستان دے

دَ چا سترګې وچې نهٔ شوې    تل دَ سرو اوښکو باران دے

پهٔ يوه جامه کښې ګرځي    کهٔ اِنسان دے کهٔ شېطان دے

تول دَ شک نه بالا تر دي    کهٔ څوک ناست دے کهٔ روان دے

زهٔ طاهرؔ چې ځان ته ګورم    دَ زړګی وطن مې وران دے

بندیوانه زندګي ده په وطن کښې
خومره ګرانه زندګي ده په وطن کښې

دا زمونږ د ژوندون ساه په روبېدو ده
که پرېشانه زندګي ده په وطن کښې

د لمن او د ګرېوانه خبر نه شو
بې پرسانه زندګي ده په وطن کښې

دا د ویښو ارزاني ده چې توئېږي
که ارزانه زندګي ده په وطن کښې

که د ګل غوندې ژوند وغوړېږي خور شي
ګرانه، ګرانه زندګي ده په وطن کښې

لا د مرګ او د ژوند هیڅ فرق ئې نشته
ښه اسانه زندګي ده په وطن کښې

زه طاهر به تر څو بندې شونړې ګرځم
مُسلمانه! زندګي ده په وطن کښې

پاتې چمن دے ګلستان پاتې دے
اُوس خوله مانه ټول جهان پاتې دے

اخر لمبه به شي جونګړه دَ زړهٔ
پهٔ قلعه بند رانه جانان پاتې دے

دریغه چې ستا پهٔ غېږ کښې مړ وے اشنا
پهٔ زړهٔ مې دغه یو ارمان پاتې دے

دَ زړهٔ پهٔ دشت وریځې وغورېدې
اوس دَ قیامت تړې یو باران پاتې دے

اوس مې تهٔ خپل لېونے هم مهٔ ګڼه
چې مې پغاړه کښې ګرېوان پاتې دے

دَ چانه تخت او خزانې پاتې شي
دَ طاهرؔ نخښه یو دېوان پاتې دے



pukhto.net

پـهٔ ظاهـر یـوه زره پـهٔ باطن غریم
کائنات چې پرې ښائسته دے هغه نمریم

زهٔ دَ وخت دَ سمندر پهٔ غېږ کښې پټه
زمانه چې پرې نازېږی آگوهر یم

دَ اسمان دروازې ټولې راته وا دی
زهٔ پهٔ اصل دَ فطرت دَ خیال وزر ئم

چې کاروان دَ ژوندانهٔ منزل ته بوځم
پهٔ تلاش دَ قافلو کښې ورک نظر ئم

زهٔ دشمن دَ تورو او دَ تیرو ئم
زهٔ دَ ژوند دَ رنړاګانو روڼ سحر ئم

چې دَ خپله حقیقته خبر نهٔ ئم
لا مې څهٔ زره کهٔ خبر پهٔ بحرو بر ئم

کـهٔ مشعل شمـه منزل تـه دَ یـارانو
لا بـه وائـمـه طـاهـرهٔ بـخـتـور ئم

pukhto.net

لکه پتنګ ئې په لمبو تېروم
نیمګړې ژوند ستا په وعدو تېروم

رانه چاپېره ستا غمونه دي تول
لکه ګل عمر په ازغو تېروم

مئینانې سترګې مې پټېږي کله
شپې ورځې تل په شو ګېرو تېروم

قیدي دَ زلفو ګنهګار دَ مینې
ژوند په دارونو زولنو تېروم

دا ستا دَ حُسن په رنګونو کښې هم
عمر جانانه په مېرو تېروم

طاهرٌ دَ مینې دوفا په خاطِر
وخت دَ حالاتو په چړو تېروم



پښتو ډاټ نېټ
pukhto.net

په ګرمۍ کښې دَ يخنۍ سندرې وايو
په يخنۍ کښې دَ ګرمۍ سندې وايو
په نېستۍ کښې دَ مستۍ سندرې وايو
په مستۍ کښې دَ نېستۍ سندرې وايو

دَ خانۍ او نوابۍ نه مو توبه ده
دَ بدمسته غربۍ سندرې وايو

خوشحالۍ کښې مو خدائے هېروي خو په غم کښې
دَ دادا او دَ ابۍ سندرې وايو

مونږ اکثر په وچو شونډو وږي ګيده
دَ تنور او دَ تبۍ سندرې وايو

پشکال کښې دَ خولو او کله کله
دَ باران او دَ ګلۍ سندرې وايو

مونږه تل په ماته خُله او غوخه ژبه
ازادۍ او خپلواکۍ سندرې وايو

اے طاهره مونږ اکثر په ځنکدن کښې
دَ زړه سترې زندګۍ سندرې وايو

# همت

هله به خاوندان شو مونږ د ضربِ کليمیؑ
پېدا چې کړو په ځان کښې مونږ ايمان ابراهيمیؑ
کردار د مشرانو مو په ځان کښې پېدا نهٔ کړو
خبرې مو په خُله دی د رومیؔ او د جامیؔ

مونږ واړه سرداران يو سرداری لره پيدا
زمونږ د پاره نهٔ ده سر کوزی او غلامی
يو موتی يوه خُله شئ د حالاتو تقاضه ده
تکرار مهٔ کوئ نور د عربیؔ او عجمیؔ

طاهره که خپل سر ګټې نو سر جنګول غواړی
خپل ځان په هر قيمت به د وختونو ګټل غواړی
دا واړه زنځيرونه د نفرت ماتول غواړی
ګلونه پدې سيمه د اُلفت به کرل غواړی

بيا ژوند مو خوشحالی ده آزادی ده آبادی
خبرې راته وګړې يو سپېڅلی فلسفی

# سندره

کله چې منصور دَ دار په سر تيالې وهله
ژوند ورته په سترګو کښې خندل
دے زمکے آسمان دَ مينے دا قيصه ليدله
ژوند ورته په سترګو کښې خندل

يو خواته ملګرو دَ مجنون څيرې ګريوان
بل خواته ځنګلي سرهٔ دشتو نه بيابان
سوے لېونے ورنهٔ په ځان نه په جهان
مينه دَ ليلىٰ ئې په ککو کښې ځليدله
ژوند ورته په سترګو کښې خندل

تنګ چې به رباب ته کله ورکړو ادم خان
رنګ به دَ درخو ورته بدل شو دَ پېزوان
هيڅ پرواه ئې نهٔ وه دَ دنيا په سودا او زيان
درخو چې به سر توره په ديوال راوختله
ژوند ورته په سترګو کښې خندل

ګوره ابرهيمؑ ته چې سور اور ورته ګلزار شو
بل خواته يوسفؑ دَ زليخې دَ غاړې هار شو
عقل وو حېران چې دَ عشق پښتو ته راګزار شو
مينه دَ پتنګ وه چې په اور کښې سوزېدله
ژوند ورته په سترګو کښې خندل

څهٔ اُوشو طاهره کهٔ دُنيا په بله واوړی
زړونه چې مئين شی نو بيا يو تر بله نه اوړی
خامخا اشنا به مې غنچه د ديدن راوړی
ماته لېونتوب چې کله دا قيصه کوله
ژوند ورته په سترګو کښې خندل

گل غوټۍ ده گلبدن دَ هغه ښکلي
ثاني نشته په چمن دَ هغه ښکلي
کۀ مې سر لۀ تنه پرېوځي پروا نشته
خو چې وکړمه ديدن دَ هغه ښکلي
کۀ نرگس دی کۀ لاله دی کۀ سنبل دی
ثاني نۀ لري سوسن دَ هغه ښکلي
کۀ مې لاس لۀ تنه پرېږدي دا زما نه کړي
پرې به نۀ ږدمه لمن دَ هغه ښکلي
ښکلي ډېر دَ زماني سترگو لېدلي
پۀ صفت دي وارۀ نن دَ هغه ښکلي
خو برويان ئې د نامې خنې شرمېږي
ژبې نخښلي پۀ گفتن دَ هغه ښکلي
زۀ طاهرؔ کۀ ورته گورمه گرم نه يم
تماشه کړي انجمن دَ هغه ښکلي

## تپوس

تۀ چې دَامن تل خبرې کوې
دا دَ بارودو باران څوك وروی؟
تويوی اوښکې دَ مقتول پۀ مړی
دغه د قتل سامان څوك خوروی؟

# سندره

لکه لیلیٰ به دِ په زړه کښې ګرځومه
وطنه تا آبادَؤ مه
خپله ځواني به زهٔ پهٔ تا قربانومه
وطنه تا آبادَؤ مه
تهٔ دَ جنت یوه ټوټه ئې
دِ ښین سپېرلی دَ بڼ وږمه ئې
په زما ځان ئې زما زړهٔ ئې
ښکلې دَ سرو ګلو غنچه ئې
ستا ګلدرے په خپلو سترګو ښکلومه
وطنه تا آبادَؤ مه
ستا ټولې سیمې ګلورینې
واورې په غرونو سپینې سپینې
ستا صحراګانې نازنینې
درې دې واړه دې رنګینې
ستا نظارو ته به زهٔ خپل ځان لوګومه
وطنه تا آبادَؤ مه
دا ستا چپې چپې سیندونه
ستا ښکلې ښکلې اوچت غرونه
ستا دغه شاړې میدانونه

ماته دې ګران دی ګلشنونه
دَ لمن خاؤره دی په سترګو لګومه
وطنه تا آبادَؤ مه

ټول ښائستونه به راټول کړم
بانهٔ دَ سترګو به دې شپول کړم
پوره به ستادَ مینے تول کړم
څهٔ به ګلاب څه به غانټول کړم
سپینه سپوږمۍ به دِ ښائست ته پسخوومه
وطنه تا آبادَؤ مه

هر يو زلمے پهٔ تا قربان دے
ستا دَ عظمت ښکاره نشان دے
طاهرؔ دې خومره قدردان دے
هر يو شاعِر دی ثناء خوان دے
تَ ازادي جنډه دې هسکه ګرځومه
وطنه تا آبادَؤ مه

---

چرته کښي ګل چرته ازغے که غزل
طاهرؔه سم دکار سړے که غزل

چې يو نعره دانا الحق پورته کړی
داسې بے خوده ليونے که غزل

# غلهٔ

څوک د تخت او دَ افسر غلهٔ
څوک دَ ګنج او دَ ګوهر غلهٔ

څوک دَ زرو په ځائے سر خوری
څوک دَ سر پځائے دَ زر غلهٔ

ددی کلی په بازار کښې
ډیره شوی دی اکثر غلهٔ

ما په کلی کښې لیدلی
دَ روژې او دَ اختر غلهٔ

که د چائے مې درته اُووے
کړوی پکښې بوسکر غله

وینی خښې دَ غریبانو
خو ماړهٔ نهٔ شو نهر غلهٔ

دَ طاهرؔ نه به هېر نشی
نهٔ سحر نهٔ مازیګر غلهٔ

پښتو دانش Pukhto.net

# غــزل

د ژونـد د تـريخ بـازاره اووتـمـه
سـتـــا د ديـدن د پـاره اووتـمـه

دَ هوش په لاره کښې منزل چرته دے
اوس دَ جـنـون پــهٔ لاره اووتـمـه

اوس په مِ ژونـد د لبونو سره وی
دَ خـــود دَ هَـر قـطـاره اووتـمـه

ستا په تهمت دَ کلی کوره خير دے
کـــه لبونے شـوم يـاره اووتـمـه

بس دے ملګرو نور مې ونه چېړئ
زهٔ د دنيـــا دَ کـــاره اووتـــمـــه

ستا پهٔ لټون کښې زهٔ طاهر ښکليه
لکـــه مـجـنـون دَ ښـاره اووتـمـه



pukhto.net

# غزل

تحت الثریٰ ته چه هم ځي هغه نظر پیدا که
چې آسمانونه کچ کوي هغه وزر پیدا که

که د حالاتو په سینه کښې غوارې کړنګ د میني
پخپل آذان کښې دَ بلالؓ غوندې آثر پیدا که

داسې هم نه چې بس په یو نظر ریزه ریزه شي
دَ کوه طور د غره نه هم مضبوط ځیګر پیدا که

چې دَ رواج د تیرو هیڅکله محتاجه نهٔ وي
دَ کائنات پهٔ غیږ کښې ځان له خپل سحر پیدا که

دلته د وخت جرګیان د زړونه کړي جوړي خاورې
ګله چې خاؤرې زر کوي هغه هُنر پیدا که

سرونه ډیر دي دَ دستار جوګه سرونه کوم دي
چې نه خرخیږي نه ټیټیږي داسې سر پیدا که

دا زاړهٔ ستوري او سپوږمۍ دَ زړو سترګو نصیب
طاهرہ ځان له نوي ستوري نوے نمر پیدا که

# سندره

زړهٔ مې نرے نرے درزېږی پهٔ قلاره
ګُله ستا دَ پاره
پهٔ طمعه ناسته یمهٔ ستا خاڼمه لاره
ګُله ستا دَ پاره
ستا پهٔ وعده مې دې قسم وی
ستا دَ راتلو راسره غم وی
لارې ته ګورم ستوری شمارم تر سحاره
ګُله ستا دَ پاره
وریځ دَ زلفو مې خوره کړه
خوره پهٔ ګلې مې تیارهٔ کړه
لکه سپوږمې څم پته پته لهٔ اغیاره
ګُله ستا دَ پاره
ستوری پهٔ مخ لرم خالونه
زهٔ چاته نهٔ وائم حالونه
دَ سپوږمې خور یٔمه حسبنه حسنداره
ګُله ستا دَ پاره
راته دا دوه سترګې ښکاره که
دغه ارمان زما پوره که
طاهرهٔ تنکه شومه ستا لهٔ انتظاره
ګُله ستا دَ پاره

# غـــزل

نـامـه چې کلـه دې راوړم پـه ژبـه
صفـت کووم دې دَ قـلـم پـه ژبـه

ځما جـانـانـه بغير ستـا له نامې
بل مې څـۀ نـه راځـی قسم پۀ ژبه

کـۀ تـۀ زمـا نـه مرور شوې آشنـا
زۀ بـه دی ستـائمـه دَ غم پـۀ ژبـه

لکـه بـلـبل در پسې ژاړمـه زۀ
تـه يـادوې مې دَ سِتم پـۀ ژبـه

دَ محبت پـۀ تهمتی جـامـه کښې
مونږه ظـاهـر شـو دَ عـالم پۀ ژبه

دَ هر طرف نه چې تيارې رڼا شوې
طـاهـره يـاد شـوې دَ صـنم پۀ ژبه

شپېلی

بس که زاړه راګونه پربړدوه اوس
مـا پـۀ ټپـه او مصرعـه مـۀ غولوه
اے د مېړو او سـردرو شپـونکيه
مـاتــه شپيلی دَ انقلاب غږوه


پښتو ورېښ pukhto.net

# نظم شاهین

زۀ وړوکے شان شاهین یم　　پۀ ظاهر پۀ باطن سپین یم
زما کار پورته الوت دے　　زما ژوند ړک دَ همت دے
دغه واړه آسمانونه　　دغه دنګ دنګ اُوچت غرونه
پۀ عرب کۀ پۀ عجم دی　　زما لاندې تر قدم دی
زۀ نشان دَ خپلواکۍ یم　　زۀ مئین پۀ آزادۍ یم
زۀ دَ سیالو سره سیال یم　　زۀ روڼ ستورے دَ اقبال یم
زۀ پۀ هر لوری سفر کړم　　کائنات به مُسخر کړم
ارادې مې د کتو دی　　حوصلې مې د کتو دی
کارنامې به سرانجام کړم　　نوم اوچت به دَ خپل قام کړم

پښتو ورانبی Pukhto.net

وَينا زما غزل شي چې غزل مخې ته راشي
پاګل شم ليونے شمه چې ګل مخې ته راشي

خبرې دَ اشنا راته نغمے شي په فضا کښې
رېبار مخې ته راشي که بُلبل مخې ته راشي

جانانه زهٔ ګلونو ته هم ستا په مينه ګورم
لاله مخې ته راشي که سنبل مخې ته راشي

فرهاد او دَ منصور قيصې لاهيرې د چانه دي
پرواه ئې څهٔ کهٔ سل ځله اجل مخې ته راشي

طاهره ته والله چې دَهر چانه بختورئې
ليلىٰ دې تورې سترګې خور اوربل مخې ته راشي

پهی پهٔ پرهر پرهر گوگل لګی
داسې دې خوارهٔ کتل لګی

ستا دَ حُسن عکس ورپکښې وېنمه
سترګې مې جانانه چې پهٔ ګل لګی

چاته دې تالونه تورې زلفې شی
چاته زنځیرونه دَ اجل لګی

یاره زهٔ دا ستا حُسن نشه کړمه
هرڅهٔ مې ترن سترګوته بدل لګی

چاته عبث ښکاری د مئین ژړا
چا باندې سندرې دَ بُلبل لګی

زهٔ طاهر بېلتون ته نخښه شوئے یم
ښپه مِ چرته یاره په منزل لګی

pukhto.net

# سندره

يـاره سپـرلـے دے رنګ بـدل شو دَ دَشتونو
باران باران دے دَ ګلونو باران
مسته هوا به مستی راولی په زړونو
باران باران دے دَ ګلونو باران
غوټۍ غوړېږی په چمن کښې ګلونه خاندی
پټ په سينه کښې دَ مئينو خوږ زړونه خاندی
بلبل چغېږی راغـے وار د دېدنونو
باران باران دے دَ ګلونو باران
چـرتـه دَ غـرهٔ پـهٔ سر ځلېږی شنه زرغونه
چرته وريـځـو کښې پټېږی شنه زرغونه
پهٔ ټول وطن پشم ورېږی دَ رنګونو
باران باران دے دَ ګلونو باران
طـاهـرؔه وخـت دَ نـو بهـار دے سندرې وايه
زړهٔ دې سينه کښې ناقرار دے سندرې وايه
هره مصرعه دې غوټۍ سپړی دَ شعرونو
باران باران دے دَ ګلونو باران

# نظمْ اَختر

څوک خوشحالي,کوي سېلونه چې آختر راشي
څوک کړي آهونه فريادونه چې آختر راشي

څوک په خندا وي هېڅ پروا دَ نور جهان نه لري
چرته لواندهٔ وي گرېوانونه چې آختر راشي

څوک په بنو کښې خپلې اوښکې ملغرې پيئي
څوک پړدې کمڅوکښې سرهٔ گلونه چې آختر راشي

دَ چا پهٔ يو مړاوي نظر شاړې گلونه سپړي
چاته گلونه شي خارونه چې آختر راشي

څوک د دېوې پهٔ خانَے جونگړې کړي ښائسته پهٔ اوښکو
چرته پرقيږي محلونه چې آختر راشي

څوک خوشحالي,کوي خنديږي خپل ارمان رَژوي
دَ چاوي زړهٔ کښې ارمانونه چې آختر راشي

دا يو پرهر دے يو احساس دے دَ طاهرؔ پهٔ زړه کښې
څکه ليکي سوي شعرونه چې آختر راشي

جانان چه نشته په وطن کښې څۀ دی
تاله ګلشن دے په ګلشن کښې څۀ دی

دَ زړۀ پـۀ وران کـلـی کښې اور وُلګېد
سوے بدن دے پـۀ بدن کښې څـۀ دی

بُلبلان تول پـۀ چغو ژاړی پکښې
خوشے چمن دے پۀ چمن کښې څۀ دی

ګرېوان مې څېرې شو پۀ لاس د ستم
څېرې لمن ده پـۀ لمن کښې څـۀ دی

طاهـره دغـه هم پېرزو ده دَ وخت
وران دی مسکن دے په مسکن کښې څۀ دی

پښتو ورلډ pukhto.net

# غــــزل

څۀ خوزه دا ستا ښائست ښکلا ته فکر وړے یم
ځــه دَ خپلـې میـنے انتها تـه فکـر وړے یم

ښه مې خبرې خبرې گرېوان وینې چې ژړېږمه
هېڅ تـرس ئـې نه کېږی اشنا ته فکر وړے یم

ته چه په خنداشے رومانی شی دَ محفل موسم
یاره زه دا ستا ښکلې خندا ته فکر وړے یم

هیڅ دَ بې وفـا او وفـادارو فرق نـۀ لـرې
اے مېنې نـادانې زۀ خـو تـا تـه فکر وړے یم

ډېرې زلزلې وریکښې راشی خو ورانېږی نۀ
زۀ طـاهرؔ حېران دَ زړه دُنیا ته فکر وړے یم

چې پرېوتې مې نظر ستا په رخسار دے
لړزېدلے مې دَ زړه دَ وطن ښار دے

انتظار يوه ګهړۍ هم قيامت دے
زما ټول عمر جانانه اِنتظار دے

زه خزان وهلے ګل دَ للمی وسوم
ستا دَ حسن دَ رنګونو سُور بهار دے

ستا دَ سترګو دَ ديدن په ارمان ژاړی
ستا مئين دے ستا دَ مينې طلبګار دے

دُ دُنيا دَ نازولو تپوس وکړی
خوار مئين عاجز په کوم جرم په دار دے

دَ طاهرؔ لمنه ډکه دَ ازغو ده
دلته هر سړے دَ ګلو خريدار دے

د سوچونو دَ فکرونو دَ خیالونو ښاره وران شې
د سـرو سـرو آهـونـو دَ غمونو ښاره وران شې

دَ گلونو پهٔ لټون کښې لمن څېرې دَ هر چا شې
پکښې گل نشته نے چیرته دَ خارونو ښاره وران شې

یو ارمان مې پوره نهٔ شو عمر واړه داسې تېر شو
رامعلوم شوې دَ ښمگړی ارمانونو ښاره وران شې

د چا یاد مې زړهٔ ته راشی بیا پهٔ سرو سترگو ژړیږم
شپه او ورځ داسې تېرېږی دَ یادونو ښاره وران شې

درد او سرېکې دَ زړگی دی خوشحالی نشته طاهرهٔ
نور پهٔ تا کښې اخر څهٔ دی دَ دردونو ښاره وران شې



پښتو ډاټ نېټ
Pukhto.net

# ځلمي ته

رهنما دَ قافلې شه دَ جرس غوندې اواز که
دَ منزل په لور روان شه دَ یو نوي ژوند اغاز که

دغه مات قدم دې سم که لویه لار درته پرته ده
له طوفانه مه یرېږه دَ شاهین غوندې پرواز که

ته ددې چمن غوټۍ یې دا چمن په تا نازېږي
چې په تاباندې نازېږي ته په هغو باندې ناز که

هم پخپله تابعدار شه هم تابع واړه جهان که
ځان پخپله ته محمود که ځان پخپله ته آیاز که

د الله ټول برابر دي انسانان پخپل نظر کښې
ورک په مینځ کښې دَ عالمو دا دَ تور سپین امتیاز که

دَ بل چا طمعه اونکړې که امیر یې که حاکم یې
ته معمار دَ خپل وطن یې وران کنډر دَ وطن ساز که

چې دَ چا په زړه کښې مینه ددې قوم او دَ وطن وي
اے طاهره ته هغوئ ته دا داستان څرګند دَ راز که

pukhto.net

چرته د وخت په ساز ګډېږي خلق
چرته دَ وخت په تبغ قتلېږي خلق

چرته کښې ځان دَ وخت بادشاه ګڼي څوک
چرته کښې وخت پۀ وخت لوټ کېږي خلق

څوک دَ سپرلو خوندونه اخلي دَ وخت
چرته دَ وخت پۀ اور سوزېږي خلق

اُوښکو لاهوکړل څوک پۀ سيند کښې د وخت
چرته پۀ چا پورې خندېږي خلق

ملګرو دغه هم ادا ده د وخت
چرته خوشحالي چرته ژړېږي خلق

طاهرۀ ته دَ زماني ساده ئې
دلته دَ وخت سره بدلېږي خلق

# غــــزل

ګلشن دا ستا دَ حُسن دَ نازونو آباد شهٔ دے
محل زما دَ مينې دَ خوبونو برباد شهٔ دے

تر څو به مې زړګے خوري اے دلبره ستا غمونه
لهٔ دے نه مې چاؤدلے دا ماشوم زړهٔ ناښاد شهٔ دے

دَ ژوند په خوږو پوهه نه شوم زه تر دا ساعته
دا روح مې د دنيا ددې تر څو نه آزاد شه دے

غنچه چې دَ ګلونو دَ فريب لړې په لاس کښې
خنجر په لاس د داسے بېوفا نه جلاد شه دے

دَ عشق پهٔ اورچې وسوزي نو پوئ پهٔ په دے قيصه شي
دَ مينې ګنه شه ده کهٔ د مينې بائېلاد شه دے

غزل کهٔ ئې څوک وائې کهٔ سندره ئې څوک وائې
طاهر ددې دنيا په محفلونو کښې ياد شه دے

په منډه ځم یار له تحفه د زندګۍ ورمه زۀ
نوې پېغام ورله د ګل او د غوټۍ ورمه زۀ

پښې مې تناکې دي روان په سره صحرا کښې یمه
وطن ته زیرے د وطن د خوشحالۍ ورمه زه

په سر کمرې خورم روان یمه پروا نۀ لرم
په زړه کمرې د خپل کور د ابا.ۍ ورمه زه

پرېکړې لاسونه کۀ زمانه د حالاتو تورې
پورته بېرغ به پۀ هر شان د خپلواکۍ ورمه زۀ

مونږ کشران یو د منصور مونږ د فرهاد زُونه یو
طاهرؔه ځکه خو سر پورته د سیالۍ ورمه زۀ

پښتو
کتابتون
Pukhto.net

دَ کلي کوره دَ وطن نه ځمه
دلبره ستا دَ انجمن نه ځمه

ګرېوان مي ستا دَ غمه تار پهٔ تار شو
لوګے مي خېژي دَ لمن نه ځمه

نهٔ ګل خوشحاله نهٔ غوټۍ موسېږي
چاؤدلے زړهٔ به دَ ګلشن نه ځمه

اوس پهٔ یو ګل مي سترګې نهٔ خوږېږي
زهٔ دي مالياره دَ چمن نه ځمه

طاهره خوږ سترګي [illegible]
ویني مي څاڅي دَ بدن نه ځمه

Pukhto.net

# زه

زهٔ چې توله شپه بېدار يم دَ سحر پهٔ انتظار يم
چې پهٔ وينو راتوکېږي دَ هغو ګلو مالیار يم
لا پرواه دَ محلونو دَ جونګړو څوکيدار يم
دَ ژوندون سندرې وائم نهٔ پهٔ تخت يم نهٔ پهٔ دار يم
زهٔ فنکار يمه ملګرو دَ زخمي زړونو دوا يم
دَ وختونو نه بې نيازه مينه مينه يم وفا يم
زهٔ ډيوه دَ تورې شپې يم زهٔ استازې دَ صبا يم
تبرګې دَ ابراهيمٔ يم دَ موسیٰ دَ لاس امسا يم
دَ ظالم دَ پاره تندر دَ بې وسو مسيحا يم
زهٔ خوږ نمر دَ محبت يم زهٔ همه رڼا رڼا يم
خوار خجل به رقيبان کړم حق حېران به غاصبان کړم
هر رېګزار به ګلستان کړم ښائسته به ټول جهان کړم

pukhto.net

# غـــزل

سپـرلے راخور شو دَ گلونو نه بخری دانگی
دَ مستـو جونـو دَ خـالونو نه بخری دانگی

نن دَ گلشن گلونه سم اور ورکی غوندې دی
جـانـانه ستا دَ رخسارونو نه بخری دانگی

جـانـانـه ستا د گل نظر د لېونتوب اثر دے
اوس دَ رقیب دَ نظرونو نه بخری دانگی

داعلیٰ ظـرفـو په مرو باندی چړې ښخیږی
خـو دَکـم ظـرفـو د نیتونه نه بخری دانگی

نـن دِ پـه فـکـر کښې لمبې د شوگیرو وینمه
طـاهـره نن دې دَ شعرونو نه بخری دانگی

# غـــزل

ستـا پــه شوقدر په اختــر نــه ئمه
زهٔ خــو دَ ځــانــه هم خبــر نــه ئمه

چې د سپرلی دَ ښائست خوند واخلمه
جـانــانــه دومــره بـخـتـور نهٔ يمه

زمـــا جــنـــون دَ مـــحـبـت اوګـوره
لـکــه منصور آره پــه سَر نــه ئمه

چې يو جانان مې پخپل خنګ کښې لرم
دَ رقيبــانــو پــهٔ لښکر نــهٔ يمــه

سر چه مې پروت وی په څنګل د جانان
د سـنـګـيـنـو نــه پــه بستـر نــه يمه

چې رنـا ګـانـې خوروی پهٔ تيـارو
هــغــه صبا هـغــه سـحـر نــهٔ يمــه

زمـا مقصد دے پـه مـنـزل رسيدهٔ
طـاهـرَه زهٔ پهٔ دشـت او غـر نــهٔ ئمه

# غزل

لوړې ژوړې دي کږې لارې دي
ډيرې اوږدې دي او تيارې لارې دي

هره کوڅه ئې نوې نوې کوڅه
دَ محبت کۀ څۀ زړې لارې دي

تراخۀ حالات دَ زندګئ تراخه هم
بلها تراخۀ دَ ژوند ترخې لارې دي

لکه فرهاد زړۀ حوصله دۀ دَ چا
هر څو که يخې دي تودې لارې دي

هر يو قدم لکه دَ زهرو ګوټ دے
دَ محبت چاوې خوږې لارې دي

دا دَ صحرا سراب دهوکه پرې نۀ شے
لمبه لمبه طاهره سرې لارې دي

پښتو کتاب
pukhto.net

ستا په ښائست کښې دَ عادت ګلونه
زما نظر کښې دَ حسرت ګلونه
دلته دَ مينې د وصلت ګلونه
هلته دَ درد او دَ فرقت ګلونه

زۀ به کرمه تل ګلان دَ مينې
تۀ کره دغه دَ نفرت ګلونه
مونږ خو رقيب ته هم په زړه کښې ساتو
دَ احترام دَ عقيدت ګلونه

هر څو که رنګ لرى ښائست لرى خو
پکار مې نۀ دى دَ منت ګلونه
زما ايمان دے چې به اُووريږى
زمونږ په چم دَ محبت ګلونه

دَ طاهر روح کښې له ازاله زرغون
دَ التفات او دَ شفقت ګلونه

# غزل

لکه ګل راته مسکے شو خپل تقدیر پهٔ آئینه کښې
ما چې ولیدو ګل رنګے ستا تصویر په آئینه کښې

دا لشې لشې بانړهٔ دی داوَل وَل زولفے کمځے دی
چرته غشی چرته ښکاری یو زنځیر پهٔ آئینه کښې

دامی ستړی تخیل دے ستا دَ سیوری په تلاش دے
دالهٔ ورایه چې لیدے شی یو راهګیر په آئینه کښې

نمرسپوږمی کهٔ هسې ښکاری سپین روښان روښانه څه شو؟
کائنات راته خړ ښکاری دَ ضمیر په آئینه کښې

زهٔ چې ستا جبین ته ګورم شبنکی خال ته دې حیران یم
که بادشاه دے پهٔ تخت ناست دے عالمګیر پهٔ آئینه کښې

نه سُرخی ئی په مخ ښکاری نهٔ هغه شوخی دَ سترګو
دا طاهرؔ دے ځانته ګوری څهٔ دلګیر پهٔ آئینه کښې

pukhto.net

خور پهٔ غرونو لکه نمر یم
سپین صبا ئیم روڼ سحر یم

زهٔ دَ وخت په نبض پوهه
هر ناسور لره نشتر یم

چه سپرلی ورته حیران دی
هغه سترګي او نظر ئیم

یو د مینې فلسفی یم
د هستی پهٔ راز خبر ئیم

نور کمے را پکښي نشته
خو بس خو دا چي بي هنر ئیم

اے طاهرهٔ اوس خبر شوم
دَ هر څهٔ نه نا خبر ئیم

دَ مسيحـا غـونـدې نظـر لـرمـه
زهٔ دَ کيميا غـونـدې جـوهر لرمه

سترګې دَ وخت فرعون ته نه ټيټووم
څـو چې په تن پورې مې سر لرمه

دا حـادثې او تـنـدرونـه دَ وخت
زهٔ دَ فرهاد غـونـدې ځيګر لرمه

پتې دَ وخت سترګې چې پرانيزمه
طـاهـرّه زهٔ داسې هُنر لرمـه

---

هـر خوا وير دے واوېلا ده ... هر ځائے دشتـه کربلا ده
دَ چـا سـر لـهٔ تيغه تير دے ... دَ چـا غـبرګـه ماتـه ملا ده
دا پـه خـو نـه دَ بې وزلو ... را نـازلـه څـهٔ بلا ده
سرې نعرې چغې سورې دی ... هر ځائے شور دے انګولا ده
خـوشحالی کـډه پهٔ سر ده ... غـم طـاهـرّه مشغولا ده



pukhto.net

# غزل

سحر دی رانه هېر کۀ مازیگر دې رانه هېر کۀ
دَ زړۀ پۀ سر دې اوویشتمه سَر دِی رانه هېر کۀ

قربان دې زماني شم لۀ عادت او لۀ فطرته
پۀ داسې گل دِ ویشتم چه کمر دی رانه هېر کۀ

دَ روځو دَ ښکلو زلفو خبرې چې دې اورم
جانانه ! د وحشی مغل لښکر دی رانۀ هېر کۀ

مجنون شوم نه فرهاد شوم نه منصور دَ زماني شوم
دَ ځانه خبر نۀ یم سمه غر دې رانه هېر کۀ

دا یو کاڼۀ کاتۀ دی دَ طاهرؔ زړگی له بس دی
نظر دی تیره توره ده خنجر دې رانه هېر کۀ

په اِنتظار دَ خپل اجل ئمه زه
په دشت ولاړ دَ للمے ګل ئمه زه

يو سترے شوے مسافر لار وے
پروت بې اسرې پخپل ځنګل يمه زه

زه به دَ وخت مقابله څۀ کووم؟
تل چې دَ وخت په ژرنده دل ئمه زه

دَ ژوند دَ تګ او مزل پربوتمه
پروت پۀ سينه کښې دَ دلدل ئمه زه

طاهرہ زۀ به ژوندے څنګ پاتې شم
نۀ چې سندره نۀ غزل يمه زه



پښتو ډاټ نېټ Pukhto.net

چرته اتل چرته سردار نشته؟
یاسر خوړلے چرته دار نشه؟

چرته مجنون چرته فرهاد وګورم
هغه قیصې هغه کردار نشته

دَ ادیرو مَړو ته نۀ ژاړمه
ملګرے یو دَ ژوند دَ لار نشته

دلته دَ ګلو کرزه چاله وکړم
دلته چې یو سړے دَ کار نشته

اورم سپړلے خور دے پۀ ښاره دشته
زما پۀ چم ولې بهار نشته

لار دَ ژوند دومره کږ لیچنه نۀ ده
خو پۀ یارانو مې اعتبار نشته

طاهره هر څۀ چې پیښیږی ورځه
چاوے د غرونو په سر لار نشته



pukhto.net

# نوے کال

دَ نوي ورځ دَ نوي کال ملګرو
چاله دَ ځۀ مبارکي ورکړمه

شونډې مې چاؤدي خېره زيړه لرم
لاس مې پولې پۀ پښو تناکې لرم

ځان ته چې ګورم غرېږ نيولے يمه
سترګې مې سرې دي ژړغونے لګم

زۀ حق حېران يمه چې دا څۀ چل دے
تالا واله مې دَ زړګي محفل دے

زما قصور څۀ دے ګناه مې څۀ ده
زما پۀ کور کښې ولې اوړ بل دے

زما ژوندون دَ حادثو عِبارت
زۀ دَ پردي تنور خشاک ولې يم

دَ رقيب کور زما پۀ وينه رڼا
زما جونګړه کښې تيرې وريږي

دَ جنتي خاورې بچے يمه زۀ
زۀ پکښې شپې ورځې نهرې تېروم



پښتو ذخيره
pukhtoogle.net

زما ښائسته او ګلالي بچوړي
دا دَ بمونو دَ اورونو خوراک

دَ دوزخ سپو په مخه کړې يمه
زما دَ تنه دا شتهٔ غوښې تروړي

داسې بې وسه بې اسرې يمه زهٔ
زما په هيڅ باندې لاس نهٔ رسي

ددې ظالم نظام دَ لاسه ژاړم
هيچرته عدل او انصاف نشته دے

زما دَ امن کور دَ امن زانګو
دَ چا دَ لاسه داسې ولړزيدل

په آئينه کښې ځانته نهٔ شم کتے
ماله دَ خپل مخ نه حيا راځي اوس

چې ځانته ګورم وېلې کيږمه زهٔ
دَ خپل وجود ځنې شرميږه زهٔ

نو زهٔ په کومه کوګې کومو سترګو
چاته دَ څهٔ مبارکي ورکړمه؟

پېغله غوټۍ ګل مې ځلمے وساته
دَ تاؤدهٔ باده مې سپرلے وساته

چې پسرلے راشي ګلونه ګل شي
دغه ارمان له مې ژوندے وساته

کهٔ سر مې مات شي خېردے بيا به جوړ شي
دَ ما تپوس نه مې زړګے وساته

که ستا پهٔ در ټوټې ټوټې شي خېردے
پردى درشل نه مې تندے وساته

ما پهٔ هر حال دَ ژوند پهٔ هر موسم کښې
لکه دَ ګل پهٔ شان مُسکے وساته

زما طاهر دغه دُعا ده ربه
زهٔ يو انسان يم ما سړے وساته

پښتو کتابتون
Pukhto.net

تشه لمن د زندګۍ ښکه که
د سرو ګلونو نه جولۍ ښکه که

کر د غانټول وکه په شاړه دشه
د کشمالو نه دې بلۍ ښکه که

اے ګلالیه شاه ځلمیه د قام
غاړه د ګلو د سیالۍ ښکه که

لکه د کونډې رنډې مور د یتیم
خُله د خندا نه د سلګۍ ښکه که

طاهره راؤړه د ارمان ګلونه
د ګلو غېږ د ګلالۍ ښکه که

ستړګي دَ اوښکو دَ غوټو ږکي دی
دَ ګلو شونډې دَ لمبو ږکي دی

دَ چا لمنې دَ ګلونو ږکې
دَ چا لمنې دَ ازغو ږکي دی

زهٔ پټې سترګې دَ ارمان لرمه
دَ جانان سترګې دَ ګیلو ږکي دی

دلبره زړهٔ ځیګر نظر مې وسو
سینې دَ خلقو دَ سلګو ږکي دی

ګرځمه ګل جانان له ګل لټوم
طاهرَه پښې مې دَ ازغو ږکي دی



پښتو
pukhto.net

هر یو ارمان په زړهٔ کښې خوب دَ لېونی ګرځووم
پهٔ خوږ خوږ سترګو کښې تصویر دَ پسرلی ګرځووم

ددې ګلونو دَ سپرلی مالیاره څهٔ مطلب دے
جونه چې څنې زهٔ ګرېوان پکښې خالی ګرځووم

نهٔ مې للونګ وکړل نهٔ مې کر دَ ګلو وکړو
پهٔ اوږو بار هسې بې هیڅه مې ځوانی ګرځووم

خلقو جوړی دَ ګلو ږکې کړی پهٔ مخه لاړل
زهٔ پهٔ لمن کښې دَ تاله ګلشن ازغی ګرځووم

ما دَ ژوندون په یو ږګر خوشحالی ونهٔ لیده
پهٔ اوږو بار دَ غمه ږکه زندګی ګرځووم

چرته نا څاپه حادثه طاهرہ پېښه نهٔ شی
پټ پهٔ سینه کښې سرهٔ بڅری اسویلی ګرځووم

چې مې سر وهي هغه مې سرادان دي
چې مې تن خرخوي دا مې مشران دي

ماله راکړي تهوڼک ورور راباندې وژني
دغه خپل دي زما دا زما دوستان دي

چې خپل مخ وهي زما مړی ته ژاړي
زمانه خبر ده دا مې قاتلان دي

چې دَ چا دَ لاسه مونږ په زړهٔ سوري شو
اوس هغه خلق زمونږه طبيبان دي

چې نه ښکته شو نه ټيټ شو نه پهٔ شا شو
نن هغه سرونه واړه اويزان دي

دَ ځلمو او پېغلو رنګته کتے نهٔ شم
دَ بارودو خوراک ګل ګل ماشومان دي

اے طاهره مونږ دَ چانه ګيله وکړو
دَ ګلونو سوداګر خپله ماليان دي

زما په سر لکه دَ نمر خور دے
ستا محبت لکه سحر خور دے

ما دَ فرقت غارمهٔ سېزلے نهٔ شي
ستا د خیال سبورے مې پهٔ سر خور دے

زهٔ د چنار سندرې نهٔ وایمه
ستا قدقامت مې پهٔ نظر خور دے

پیغام زما دَ محبت دَ خلوص
پهٔ ملاکنډ او پهٔ خیبر خور دے

زهٔ ستا ښائست او ښکلا وړے یمه
ستا تصور رابانديې غر خور دے

جانانه ستا یو خوږ نظر دَ کرم
لکه مرهم مې پهٔ پرهر خور دے

طاهرؔه خوږ جانان به خنګه هېر کړم
لکه غزل مې پهٔ ځیګر خور دے



پښتو Pukhto.net

ژاړم دَ ګل سپرلی قيصي کوومه
لکه بُلبل په غنو شپې کوومه

لکه د شمعې يم ولاړ خاموشه
پټ پټ سوزېږمه لمبې کوومه

لکه منصور دَ وخت په دار وختم
لکه آدم سوی تپې کوومه

سوی نظر سوی څيګر ګرځمه
اور مې اخستے دے لوګے کوومه

حيران ولاړ يم دَ ضمير په څلی
دَ خپلې وينې تماشې کوومه

طاهره ژاړمه فرقت کښې د يار
سندرې وائمه مصرعې کوومه

دَ سُور سپرلی پهٔ انتظار ښکاری
ټول کائنات راته سینګار ښکاری

هر ځائے بخری تندرونه لوېږی
دَ ژوند فضا راته انګار ښکاری

دا کهکشان چې دوړې دوړې لګی
دا دَ اسمان دَ ختو لار ښکاری

دَ خپل وطن پهٔ مینه مست لېونے
هر یو ځلمے خُمار خُمار ښکاری

دار دَ بل چا دَ وس خبره نهٔ ده
دا دَ طاهرؔ لېونی کار ښکاری

پښتو Pukhto.net

زهٔ حوصله لکه دَ غر لرمه
لکه فرهاد غوندې ځيګر لرمه

زهٔ خپل مرام او منزل پېژنمه
زهٔ دَ شاهين غوندې نظر لرمه

ګل به کرمه پدې ورانه دشته
خو په تنه پورې چې سَر لرمه

زمانې! زهٔ داسې بې وزله نهٔ يم
زړهٔ لکه غر تن مې سنګر لرمه

ژوند تېرومه دَ ازغو پهٔ غېږ کښې
شپه کهٔ تياره ده روڼ سحر لرمه

يو مسيحا جانان طاهرهٔ شته دے
څوکهٔ زړګے پرهر پرهر لرمه



پښتو ورلډ
pukhto.net

# سندره

ژوند به زما څه وي بې لۀ تا نه دا خو راته اووايه جانانه

يـۀ زمـا مئينـه پـۀ مـاګرانـه دا خو راته اووايه جانانه

غوښ غوښ مې زړګے ترے نظر دے
سوے مې پرهر پرهر ځيګر دے
اور رابـانـدې بل دے لۀ هجرانه
دا خـو راته اووايه جانانه

زړه کـه مِ دَ غمه سوے سکور دے
مينـے رَا بـخـلے بلا زور دے
مړ به نۀ شم داسې پـه آسانه
دا خو راته اووايه جانانه

خـوږ زړه مې نرے نرے خوږيږي
اوښکې مې دَ سترګو نۀ وچيږي
غـږ کـولے نشم لـۀ حيـا نـه
دا خـو راته اووايه جانانه

دا ستـا پـه مينـه مې قسم دے
راسـره ستـا دَ مينې غم دے
بس کـه را پـخلاشه طاهرؔ جانه
دا خو راته اووايه جانانه



pukhto.net

کوم شے دَ وخت په دُکان نۀ خرڅېږی؟
یو دَ ضمیر خاوندان نۀ خرڅېږی

هر څۀ خرڅېږی د دُنیا پۀ بازار
غیرت، خودی او ایمان نۀ خرڅېږی

کۀ سر مې لاړ شی خو دَ حق د پاره
دا یو سودا پۀ تاوان نۀ خرڅېږی

لکه یوسفؑ به په بازار دَ مصر
څوک بیش قیمته اَرزان نۀ خرڅېږی

کۀ سرے خرڅ شی دا عجبه نۀ ده
خو یو طاهرؔ انسان نۀ خرڅېږی

پښتو
Pukhto.net

چې نه ټک کوي نه جنګ او نه پرواز
قيمت نه لري که چتې وي که باز

پښتانه دَ ځان ځانۍ په دام کښې ګير شو
نه پيدا چرته محمودٌ شو نه آيازٌ

کاش! په وړه پښتون خوا باندې خواره شي
دا زما سوې نغمې دَ زړه آواز

خدايه کله به بيدار دَ بڼ زمرې کړې
چې راويښ م شي دَ ژوند دَ نغمې ساز

دريغه دريغه اے طاهرهٔ په ماګرانه
که پيدا کړې دَ رحمانٌ غوندې اعجاز

دا چې ګلشن سوزي ګلونه سوزي
زمونږ کورونه زمونږ زړونه سوزي

هر خوا وريږي دَ بارودو باران
ځنګلو اور اخستے غرونه سوزي

د عداوت دَ نفرتونو په اور
نختري سوزي چنارونه سوزي

راشه کله ګورې دَ قيامت ننداره
بخري اوزي سيندونه سوزي

چې په حالاتو دَ وخت غور وکړم
زما احساس سوزي فکرونه سوزي

دغه پرقا دَ تندرونو بريښنا
سترګې رنديږي نظرونه سوزي

طاهره ته به ژوندے خنګ پاتے شے
دَ ژوند آثار سوزي تيغونه سوزي



pukhto.net

ماته چې وے زړهٔ دې خوږېږی کنهٔ!
وایه پهٔ تا هم څهٔ تېرېږی کنهٔ!

دَ ګلو لختې ښاپېرۍ دَ حُسن
رنګ دې نرے نرے زېرېږی کنهٔ

دَ ځوانۍ عمر شوګېرې شوګېرې
مئېنې! سترګې دې سوزېږی کنهٔ

ګلې چې نمر دَ ماز‌ېګر پرېوځی
وایه ریښتیا زړهٔ دې ډوبېږی کنهٔ

څه کنهٔ! اوس خوئی قلاره کړه لږ
لکه ماشوم دې زړهٔ ژړېږی کنهٔ

دَ سترګو تور دَ زړهٔ مرهم جانانه!
څنګه! طاهرؔ درته یادېږی کنهٔ

پښتو ډاټ نیټ
pukhto.net

څه دَ منزل په لوری ړار مه کوه
ویره دَ مرګ دَ خلے دَ دار مه کوه

لکه فرهاد غوندې تېشه راواخله
پرواه زړګیه دَ کوهسار مه کوه

پاسه روان شه لارویه دَ ژوند
دَ شلوګوړو انتظار مه کوه

ژوند ته دَ ژوند پهٔ سترګه وګوره څه
دَ ژوند پهٔ للمه کښې بیګار مه کوه

طاهرہ خلق دَ سپوږمۍ نه تېر شو
تهٔ ورته اوس دَ ستورو شمار مه کوه



پښتو زړه بیب Pukhto.net

راپــهٔ غــاړه دَ وخــت جنګ دے
تـــوری ستـــا نيـولـے زنګ دے

بنګ تــه او ګـوره چنــار شـو
دَ چــنـــــارو ونـــه بنګ دے

زمـــا دوه تــکـى ايـــزده دی
يــو پښتـــو ده او بــل ننګ دے

ورور د رور پــهٔ مـری غــلـے
دَ مـاحـول نــه مې زرهٔ تنګ دے

ســر مې ژړونـد پـهٔ دبـوال دے
ښـخ پــهٔ زړهٔ کښې مې خدنګ دے

کــرامـــت دے دَ وختــونـو
څوک بادشاه دے څوک ملنګ دے

زهٔ طـــاهـرؔ ورتـــه خـوشـحـال يم
څــوک بهـرؔام دے کــه اورنګ دے

چې مې جذبې په اشتعال کېښې راشي
طـاهرۀ مينـه پـه جلال کېښې راشي

اور اورکــی لکــه بخـری ګـرځـی
چې رنیاګانی دی پۀ خال کېښې راشي

راشـه سپـوږمـۍ زمـا جـانان اووينـه
چې وسعتونـه دی جمال کېښې راشي

رنګين رنګين شي ټول ماحول مينه شي
ستـا تصور چې مې پۀ خيال کېښې راشي

دغـه هم خپلـه خـوش بـختي ګنمه
کۀ بـد بـختی زما پۀ فال کېښې راشي

طــاهــره ورځ ئې دَ اختــر ګــڼـه
جـانان کۀ سل ځله پۀ کال کېښې راشي

چاپېره ګـرځـم لولکۍ شمـه زهٔ
چه دَ يار نوم واورم سيلئۍ شمه زهٔ

چـې ګلابـی مخ تـه دی وګورمـه
لکـه شبنيم غـوټۍ غوټۍ شمـه زهٔ

ستـا دغـه مستـې سترګې څهٔ وينم
خـوږه سنـدره دَ مستـۍ شمـه زهٔ

دَ ګـلـو لـختی دَ نظره مـهٔ شي
لـوګـے لـوګـے دي دَ ځوانۍ شمه زهٔ

نـامه مې څه دَ يار پهٔ شونډو راشي
طـاهـره سـاز دَ زنـدګۍ شمـه زهٔ



پښتو زده کړه Pukhto.net

پهٔ سترګو مې ښهٔ نهٔ لګي تصوير دَ غلامۍ
ملګرو شلول غواړي هر زنځير دَ غلامۍ

واللّه کهٔ يو ساعت هم پکښې پاتې شو ملګرو
تر څو چه وي دا کلے مو فقير د غلامۍ

حالات بدلول غواړي کهٔ هر څهٔ مخه پېښيږي
زمونږ ۀ برخه ولې دے تقدير دَ غلامۍ

ايمان او غيرت دواړه پتنګان دَ خپلواکۍ
فکرونه هم آزاد غواړي ضمير دَ غلامۍ

آزاد ګيدړ ترې ښهٔ دے د غلام بادشاه د ژوند
زمرے نهٔ وي زمرے چې شي اسير د غلامۍ

بس دومره ځائے پوره دے چې آزاد پکښې دفن يم
طاهره خوښ مې نهٔ دے لوئے جاګير دَ غلامۍ



پښتو ادب پښتو Pukhto.net

لوګي خېږي د اهونو
نرې درد د پرهرونو

مرې ناستې د بُلبُلو
سرېکي سرېکي د دردونو

هنګامې دي حادثې دي
کوڅې ورانې دي د زړونو

ستوري سرې د غوټو وينم
سينې چاکې د ګلونو

ګونه زيړه د فطرت ده
رنګ الوتې د رنګونو

ستورګې توري که سرې شوندې
مزه نشته د خالونو

ژوند پيکه پيکه طاهره
لمبې خېژي د شعرونو

پښتو
pukhto.net

چامو حجرې چامو کورونه وران کړل
چامو کوټې چا دېوالونه وران کړل

چا ګلشنو نه ګلدرې تالا کړې
چامو ښائسته ښارونه وران کړل

چامو په لاره کښې دېوال اُودرو
چامو دَ لوئي منزل پلونه وران کړل

زمونږ په کور کښې به اغيار ګرځی اوس
مونږه پخپله چې خپل ورونه وران کړل

دا څنګه جبر دے ستم دے دَ وخت
دې حادثو زمونږه زړونه وران کړل

دَ لالی سَر مو پکښې ونه موندو
مونږه کۀ هر پسې برجونه وران کړل

پۀ پښتنو باندې آثر نۀ کوی
طاهرؔ لیکلی خپل شعرونه وران کړل

په ازغو سوری سوری زما بدن دی
د اغیار دی هغه ګل دی که ګلشن دی

د یو ګل یوې غوټۍ خبره نه ده
سوزېدلی جل وهلی ټول چمن دی

دربېدلی او د سنبلو ګوڼې زیړی
مړاوی مړاوی دی غانټول دی که سوسن دی

دې حالاتو رانه خوب دی تښتولی
سترګې سرې دی په ژړا زړه مې درمن دی

له ګرابوانه مې لوګی خېژي تار تار دی
خلقه! اور مې لګېدلی په لمن دی

زه طاهر که تښته وکړم څه به وکړم
زه قیدي یمه پنجره زما وطن دی

## دَماشومې جينۍ

# سندره

زهٔ وړوکې لـوـلـکـۍ يـم
دَ رنـګـونـو ښـاپيرۍ يم

زهٔ ښـائـسـت دَ ګلستـان يم
ښـائستـه د ګـل غـوټـۍ يـم

تــاج مــحـل ئِـمـه دَ مينې
دَ خـوبـونـو شهزادګۍ يـم

کـائـنـات چې پرې رنګين دی
هـغـه رنګ دَ ژوندګـۍ يـم

يو قوت يم يو طـاقـت يم
يـو نشـان دَ خپـلـواکۍ يم

شين بيرغ لرم پهٔ لاس کښې
زيـړے لـوړ دَ ازادۍ يـم

چې قـامـونـه پـرې نازيږي
خـلـقـه زهٔ هـغـه جينـۍ يم

پـاکـسـتـان زمـا وطـن دے
زهٔ ګـودۍ پـاکـسـتـانۍ يـم

دیدار طاهر

(۵)

یـامې فرهـاد یـامې مجنون کـه رَبّـه
زمـا رهبـر زمـا دَ جـنـون کـه رَبّـه

مـا درنـه کـلـه خـزانې غوښتې دی
کـلـه مـې وئیلـی مـا قـارون کـه رَبّـه

دَ سـکـنـدر او داراتـخـت نـهٔ غـوارم
مـا سـقـراط یـا افـلاطون کـه رَبّـه

داسـر سـری ژونـدون مـې نـهٔ دے پکار
پوهـه پـهٔ راز مې دَ ژوندون کـه رَبّـه

چې مې پښتو او اسلام غېږ پهٔ غېږ شی
مـا مسلـمـان کـه مـا پښتون کـه رَبّـه

زړګـے زمـا دَ درد دَ مـیـنـې ډک کـه
سـوے نـظـر رالـه ګـلـګون کـه رَبّـه

خـومره خـامې دی تـاتـه ګـرانـه نهٔ ده
طـاهـرؔ د مینـې یـو مضمون کـه رَبّـه

ځـۀ د خپل ځـان ويرې اخستے يمه
ځـۀ دَ جـانـان ويرې اخستے يمـه

دَ هـر انسـان ويـرې اخستے يمـه
اُوس دَ جهـان ويـرې اخستے يمـه

دَ سرو غـوټـو دَ سترګو وينې څاڅې
دَ ګـلسـتـان ويــرې اخستے يمـــه

دَ امنـ ـدونــو جنـــازې اووتــے
د خپــل ارمـان ويــرې اخستے يمـه

کـۀ دا ورې ورې چپـې وى خبر دے
دَ لـوئ طـوفـان ويـرې اخستے يمـه

سر راله مات کړی بيا مې وينه وينحی
ددی احسـان ويــرې اخستے يمـه

طــاهـرّه دا کـــوڅې بــازار او کلے
دَ وران مـــکـان ويـرې اخستے يمـه

# نظم ملاکنډ

غزل غزل ملاکنډ
لکه دَ گل ملاکنډ

خور لکه شال دَ امن
سپورے سنبل ملاکنډ

دَ جنتونو د سیال
نعم البدل ملاکنډ

زما زړگے او سینه
زما گوگل ملاکنډ

زما ټپه سندره
زما غزل ملاکنډ

زما شوخي دَ غزل
دَیار کاکل ملاکنډ

دا گلدره دَ ښائست
خور لکه گل ملاکنډ

دَ طاهرؔ ژوند او مینه
دَ طاهرؔ خپل ملاکنډ

نظم

# زما بچي

دَ شپې نهره خپته
سحر هم وړے ترږے
زما بچے د غسې
بښته په لاس کښې واخلي
لاړشي دَ کوره وږي
خو په خله هيڅ نهٔ وائي
زهٔ هم چاؤدلے زړگے
چې خپل بچي ته گورم
زړهٔ مې راډک غوندې شي
خوخهٔ وئيلے نهٔ شم
چې دې نظام ته گورم
زړهٔ او نظر مې سوزي
يو خوا بچے دَ زردار
بل خوا بچے دَ مزدور



pukhto.net

يو خوا ته وچې شونډې
بل خوا شودۀ پېروی

يو خوا مزې چرچې دی
بل خوا زړۀ سترې ژوندن

بې انصافی دَ وطن
دا بې رحمی دَ رواج
دا طبقاتی کشمکش

چې دا حالات وينمه
چې دی نظام ته گورم

ځان سره روغوندې زۀ
پۀ ژړه غونی آواز
داسې پخپله اووئيم

زما بچے به خۀ سبق اووائی
زما بچے به خۀ افسر جوړ شی
زما بچے به خۀ! ډاکټر جوړ شی



پښتو ټوټنه Tukhto.net

# سندره

څم ملاکنډ ته دَ ګلونو تماشې له څمه
څمه دَ خپل وطن دَ غرونو تماشې له څمه

يخې اُوبۀ يخې چينې لکه خورې دَ ګبين
پستې ولې صفا صفا لکه رنې دَ آئين
دَ سوات پۀ غېږ کښې دَ سيندونو تماشې له څمه

هر خوا خورې ورې پۀ لاره دَ غوزانو ونې
دَ خوبانو دَ الوچو او دَ بادامو ونې
دَ مرغزار دَ چنارونو تماشې له څمه

دا دَبشام او دَ کالام درنې درنې ځنګلې
دَ مهو بند او دَ کېدام خورې ورې ځنګلې
دَ ليلونې دَ نخترونو تماشې له څمه

pukhto.net

زانـګې په بڼ کښې ماشومان لکه طوطیان دَ چمن
ښـائسته ښائسته لکه ګلان دا ماشومان دَ چمن
فـضـا ګـټېـ کـښـې دَ تـهالـونوتماشې له څمه

دَ سـتـرګـو الوځې خوبونه جنتې موسم وی
زانـګې هوا کوی هم زړونه جنتې موسم وی
څـمه پۀ ویښـه دَ خـوبـونو تماشې له څمه

دلته هر وختې دَ هوا پۀ تال کښې زړونه زانګی
هر خوا پۀ څانګو کښې سیالی کوی ګلونه زانګی
طـاهـرّه څـم دَ ابشـارونـو تـماشې لـه څمـه

# غــــزل

څوک دَ يــار زلـفې او کــاکل لټوی
څــوک دَ ليـلـیٰ دَ زلــفــو ول لټـوی

څوک دَ فرهاد غوندې تېشه پهٔ لاس کښې
پـهٔ غــرونو گــرځـی خپل اجل لټوی

قــربـان دَ هــاغــه لېونو نـه شمـه
چې پــهٔ خـارونو کښې هم گل لټوی

پـهٔ ريگستـان او خــارستان هم نـهٔ دی
پښې آبـلـهٔ گرځی خپـل منزل لټوی

دَ ژونـد دَ نــاوې دَ ســنـگــار د پــاره
گــرځی پـهٔ دشتــه کښې ځنگل لټوی

دَ ژونـد خــوارهٔ شيـندی دَ ژوند مئېنان
چې خپـل نـظـر او خپـل گوگل لټوی

دَ مـلاکـنـډ پــهٔ دنگــو غــرونو گــرځی
طــاهــرؔ پــهٔ کــانړو کښې غـزل لټوی

## قطعه

تَک هميشه وی پهٔ خارونو دَ گلونو پهٔ لور
مونږه تل شپې صباکوو دَ سحرونو پهٔ لور
طاهرؔه واړه رقيبان گوته پهٔ خُله ولاړ دی
مونږ خپلې وېنې بلوؤ دَ منزلونو پهٔ لور

رڼاګاني چې ويشي هغه سحر يم
يو زره يمه راخور په بحروبر يم

زۀ تشبيه خپله دَ څاڅکي سره نه کړم
زۀ انسان يم دَ رازونو سمندر يم

دَ قدرت دَ تخيل ښکلے شاهکار يم
په صورت لکه دَ موم په معنیٰ غر يم

زما ذات دَ کائنات دَ زنې خال دے
زۀ ښائست يمه ښکلا يمه جوهر يم

د سپوږمۍ ستورو او نمر حقيقت څۀ دے
پدې راز دَ کائنات باندې خبر يم

چې د ستورو قافلې ور پکښې اُوسي
هغه زړه هغه ځيګر هغه نظر يم

وخت طاهرهٔ! به يو ځل مې را بهر کړي
پروت په زړهٔ کښې د درياب لکه ګوهر يم

# نظم زما وطن

دا دَ ګـــلـــونـــو وطـــن
دَ ښـــائـستـــونــو وطــن

دا دَ خـــوبـــونـــو وطـــن
دا دَ خيـــالـــونـــو وطـــن

دَ چـــنـــارونـــو وطـــن
دَ نـــخـتـــرونـــو وطـــن

دا دَ سيـــنـدونـــو وطـــن
يـك دَ رنـــګـــونـــو وطـــن

اوس پـكښـي اور بلېږي
پـــه كـلـى كـور بلېږي

غـــرونـــه هـــم ونـــړېدل
زړونـــه هـــم وژړېدل



پښتو pukhto.net

لاړې کوڅې ورانې شوې
سرې ګلدرې ورانې شوې

چا دَ نظره کړو مونږ
دغه سازش دے دَ چا؟

لاړل تاله ترغه شو
زمونږ سکون او امن

زمونږ بچی قتلیږی
زمونږ بچی سوزیږی

دَ چا سکون لتاړ شو
دَ چا ښائست پیکه شو

لږ غوندې فکر وکړئ
دغه تاوان دے دَ چا؟

دَ چا ژوندون پۀ سخته؟
څوک پۀ لړزان دی دلته؟



پښتو ډاټ نیټ pukhto.net

یک لـهٔ دردہ او دَ مینې دَ خـاطر زړهٔ
یـو سپېځلي آئیـنـه ده دَ شاعر زړهٔ

پهٔ باطن کښې دَ فولادو نه هم کلک دے
دَ پستي غـوښې ټوټه ده پهٔ ظاهر زړهٔ

نـهٔ به ستا پهٔ زړهٔ کښې ځاے ځانله پیدا کړم
نـهٔ به نرم پـهٔ مـومن شي دَ کافر زړهٔ

چې نـظرې دَ جانان دَ مخ طواف کړي
لکه مـوم وي هسې نرم د زائر زړهٔ

پـه ظـاهـره ښې پستې پستې خبرې
لکه سنګ وي پهٔ باطن کښې دَ ساحر زړهٔ

لکه جل وهلے ګل دے مړاوے
چـاکـه ولیدو ملګرو دَ طـاهـرؔ زړهٔ

pukhto.net

دَ اغیـارو دَ دوران ختـلـې خـلـې دی
اننګـی دَ زمـانـې خـولـې خـولـې دی

سر پهٔ داؤ ږدمه آخر چې سر مې سر شی
یـاربدلـې مـې جذبې او ولولـې دی

دا دَامن پـهٔ نـامـهٔ پدې دُنیا کښې
مـاتهٔ جوړې دی چې خومره مسئلې دی

خاخا خهٔ مخ نیوے ئې کول غواړی
دَ اهـونـو دَ دردونـو سِلسِلی دې

د یـارانو پـهٔ مـحله کښې چـراغـان دی
دَ رقیـب پـهٔ چم کښې جوړې زلزلې دی

مرام لنـ ... اے طـاهـره لرې نـهٔ دے
دَمـنـزل پـهٔ لـور روانـې قـافـلـې دی

pukhto.net

خله دَ موسیٰؑ لاس دَ عیسیٰؑ غواړم
زهٔ کاروبار دَ مسیحا غواړم

څوک دے فرعون څوک دې قارون رَبّه — زه درنه هم یوه اسما غواړم

دَ زمانې تیرو کور کړے یمه — سترګو له نور غواړم رڼا غواړم

هر خوا سرې سترګې دی سلګۍ اورم — هره خُله پکه دَ خندا غواړم

دَ ابراهیمؑ تکبیر دَ وخت آواز — دا ازرې دُنیا فنا غواړم

هر خوا تیارهٔ ده او تور تم دَ جهل — پهٔ هر ګودر دی سپین صبا غواړم

دغه دنیا شوه دَ یارانو دُنیا — طاهره زهٔ بله دنیا غواړم

# قطعه

چې دَ وخت دَ قافلې سره روان یم
یو زره یمه خو ستورے دَ اسمان یم
دَ خودۍ څادر مې واغوستو طاهره
کهٔ ملنګ دَ زمانې یم خو سلطان یم



پښتو ډاټ نېټ pukhto.net

مئين زړګے به قرار خنګ ونيسي
چې مې اشنـا دَ رقيب خنګ ونيسي

دَ زړه آئين به خامخا ماتيږي
چې دَ ضمير آئينه زنګ ونيسي

چې ګلبدن خبرات دَ حسن وېشي
کچکول په لاس کښې ملنګ ونيسي

مينه په وجد اشتعال کښې راشي
چې دَ ښائست چينه غور زنګ ونيسي

که ښکلو چرته کښې وفا اوکړله
دَ بنګو بوټے به لونګ ونيسي

طاهرؔ په اور دَ محبت کښې خوشحال
لکه لمبو ته ځان پتنګ ونيسي



پښتو ډاټ نېټ
pukhto.net

قتـل دَ ژونـد دَ هـر ارمـان کـومـه
بـې ارزی،دَ مـرګ سـامـان کومـه

یو دې ځوانی بل دې ښائست دَ قهر
ځـنګ مخ نیوے به دَ طوفان کوومه

خـال ورلـه ږدمـه دَ زړګـی پهٔ وینه
نن ښـه ستـرګه دَ جانان کوومه

چې ستـا دَ زلـفو سره لوبې کووم
بـنـدوبست خپله دَ زندان کوومه

لـږ لـوګـوم ورتـه دردونـه دَ زړهٔ
قـدر دَ ګـل او ګـلستـان کـوومـه

یـو ځـل مې ګټه وکړه ستا پهٔ مینه
دا بـاقـی عـمـر بـه تـاوان کـوومـه

طـاهـره ژاړمـه دَ مـرګ نه مخکښې
لـږ پـخپـل قبـر چـراغـان کـوومـه

اور مې پۀ لمبو کښې دے
شور مې پۀ سلګو دے
زۀ پتنګ دَ مینې یم
کار مې پۀ لمبو کښې دے
ستا ښائست زرې زرې
خور پۀ پلوشو کښې دے
خاندم لکه ګل هسې
ژوند مې پۀ ازغو کښې دے
دا لمبو مې نۀ منې
زور پۀ زولنو کښې دے
دا ستا دَ ښائست اعجاز
خوند مې په نغمو کښې دے
زۀ دیدار طاهر یمه
نوم مې په پښتو کښې دے

pukhto.net پښتو

ښائسته سپرلے به څۀ وی ګل به څۀ وی
جانانه ستا نعم البدل به څۀ وی

چې پکښې نکر دا ستا اونۀ کرمه
هغه سندره او غزل به څۀ وی

دَ یار جمال چې پۀ جلال کښې راشی
غرونه هم اور اخلی ځنګل به څۀ وی

چرته کښې مینه دَ جانان چرته ګل
بورا ته اوګوره بُلبُل به څۀ وی

دَ روغو زړونو آئینې ځړی شی
سوے نظر سوے ګوګل به څۀ وی

چې نۀ خوشبو نۀ ساړۀ سیوری لری
هغه زلفان هغه اور بل به څۀ وی

چې نۀ مئین ئې نۀ شاعر طاهره
خوند دَ ژوندون او دَ اجل به څۀ وی



پښتو
pukhto.net

زما عـزت زمـا عـظـمت څهٔ شو
اوس زما هاغه شان شوکت څهٔ شو

چـې زمـا سَـر دَ مشـرۍ سَـر وو
زمـا قـوت زمـا طـاقت څـهٔ شـو

ورور به دَورور د پاره ځان وژلو
هغه خلوص او صداقت څهٔ شو

هغه خلوص او همدردي چرته دی
څـهٔ هغـه مینـه محبت څـهٔ شو

ولـي بـې وسـه شوم کمزورے شومه
زما ایمـان زمـان غیرت څهٔ شو

ویـنـه تـوئیږي دَ اوبو پـه شانتي
طـاهـره ستـا دَ سَـر قیمت څهٔ شو؟



pukhto.net

## نظم

# نن هم وخت دے که بیدار شو

ورک او سپک شو خوار وزار شو
نن هم وخت دے کۀ بېدار شو
نه دَ دین نه دَ دُنیا شو
نه دَ ځان ته دَ عقبیٰ شو
نه حلال شو نه مردار شو
نن هم وخت دے کۀ بېدار شو
زمونږ غوښې دی ورتیږی
زمونږ وینې دی توئیږی
دا په څۀ ګناه پۀ دار شو
نن هم وخت دے کۀ بېدار شو
ټول نس نس خوارۀ شو باد شو
ټول تالا والا برباد شو
ټول دَ یو بل نه ویزار شو
نن هم وخت دے کۀ بېدار شو
مونږ دَ یو بل دشمنان شو
دَ دُشمن رقیب دوستان شو

دَ ګـــرنګـــه راګـــزار شُو
نن هم وخت دے کۀ بېدار شُو
لـړ دا سـر خـوزول غواړي
سـتـرګـې هم غـړول غواړي
وخـت ستی کړو پۀ انګار شُو
نن هم وخت دے کۀ بېدار شُو
مونږه سوزو پۀ خپل اور کښې
قتـل کېږو پـخپـل کورکښې
پـخپـل دام کښې ګرفتار شُو
نن هم وخت دے کۀ بېدار شُو
مـونـږ ګـلان دَ يـو چمـن يو
بـُـلـبـلان دَ يـو چـمــن يــو
واړه قتـل وار پــۀ وار شُو
نن هم وخت دے کۀ بېدار شُو
دَجـانـان دَ تپـوس نـۀ يـو
دَ خپـل ځـان دَ تپـوس نۀ يو
اے طـاهـرؔه دومره خوار شُو
نن هم وخت دے کۀ بېدار شُو


pukhto.net

ستا دَ محبت پهٔ آئینه کښې زهٔ
گورم دَ حیرت پهٔ آئینه کښې زهٔ
زهٔ له ډېرې مینې تاته نه گورم
ورک یم دَ اُلفت پهٔ آئینه کښې زهٔ
پروت یم لکه گل پرهر پرهر ئمه
خاندم دَ فطرت پهٔ آئینه کښې زهٔ
ډېر په نظر کوږ دی چې ما نه وینی
اوسم دَ جلوت په آئینه کښې زهٔ
زهٔ طاهرؔ خوږوره مینه مینه یم
سوزم دَ نفرت پهٔ آئینه کښې زهٔ

pukhto.net

# قطعه

دا چا وے چې ملګرو خوشال خان نهٔ پیدا کیږی
خالد نهٔ پیدا کیږی ایمل خان نه پیدا کیږی
دَ سر دُشمن مې نن راته پهٔ ډاګه داسې اووے
چې اوس به پدې خاؤره قدیر خان نه پیدا کیږی

خوري ګوتې چې يو موټے شي طاقت شي
دَ غليم سر له يو تندر شي آفت شي

څاڅکے څاڅکے چې يو ځائے شي سمندر شي
چې زره زره راجمع شي قوت شي

د نامردو کۀ لښکر وي هم عبث وي
دَ مردانو خلقو فتح پۀ همت شي

ننګ ناموس پت او غيرت نه چې لاس واخلي
حميّت دَ هغه زړونو نه رخصت شي

بدرګه دَ ازمرو يو سره بويه
دَ ګيدړو بدرګه پڅان لعنت شي

دَ طاهرؔ دَ غزل تورو ته حيران يم
چې دا توری به نغمی دَ ساوت شي

پښتو زړه
Pukhto.net

دا زمــان دَ هـغــه چــا دے
هـم مـکــان دَ هـغــه چــا دے
چـې دَ مـــرګ نـــه نـــهٔ ويــرېږي
دا جـهــان دَ هـغــه چــا دے
چـې پـه متـو کښې ئے زور دے
دا ميـدان دَ هـغـه چـا دے
خپـلـه ويـنـه چـې قـربان کړي
ګـلسـتـان دَ هـغـه چـا دے
چـې ګـلـونـو تـه شـوګير کړي
پـريستــان دَ هـغـه چـا دے
څوک چې ستوري شماري ناست وي
کهـکشــان دَ هـغــه چـا دے
څـوک چـې خپـلـه وينه تېل کړي
نـورسـتــان دَ هـغـه چــا دے
څـوک چـې ځـان وخوري طاهرؔ
خــوږ ديـوان دَ هـغـه چـا دے

# غــزل

مــاتــل آذان دَ حــريــت د آزادۍ وئيلے
ما پۀ مکتب کښې ټول سبق دَ خپلواکۍ وئيلے

مـاتـه زمـا دَ ژوند اُستاد يوه نغمه خودلې
ما پۀ جواب کښې ورته بانګ دَ قربانۍ وئيلے

زه کۀ مـاشـوم يمه هلك يمه بوډا يمه خو
هر يو ساعت ته مې خپل سبورے دَ ځوانۍ وئيلے

ما خپلې وينې تل شيندلې دى دَګل پۀ خاطِر
هر يو پرهر ته مې خپل خال دَ کلالۍ وئيلے

طـاهـرّه تۀ خـو تـل ټپـې کوه غزلې وايه
مـا هـر يـو نـظـم دَ روښـانه زندګۍ وئيلے

## قطعه

بس که زاړۀ راګونه پرېږدوه اُوس
مـا پـۀ ټپـه او مـصـرعه مۀ غولوه
اے دَ مـيـرو او دَ درو شپـونـکيـه
مـاتـه شپـيـلـۍ دَ انقلاب غږوه

ماز یگر دی توره شپه ده که سحر دی
په لمنه دَ اسمان زما نظر دی

فاصلې مې دَ حدونو قابو کړې
ما خور کړې دَ شاهین غوندې وزر دی

لېونتوب مې دَ مجنون غوندې په سر کښې
ما موندلې دَ فرهاد غوندې ځیگر دی

هر یو فکر مې سندره دَ سپرلی ده
هره اوښکه ملغلره مې گوهر دی

په درشل دَ جابرانو به ټیټ نشي
زما سر هم زما سر دی زما سر دی

ټول زما دَ تورې شرنگ نه په لړزان وو
که بابر که همایون دی که اکبر دی

سره دشتونه ټول زما دَ قدم خاوري
نړولې ما په پسه تیشه غر دی

زه به دا تیارې رڼا کړمه طاهره
زما فکر په اسمان ختلې نمر دی

پـه خپـل کالۀ پـه خپله لار مې وژنی
پته پـنـاه نـۀ ده پۀ جار مې وژنی

اوس بـه نـۀ ګـل کـرم نۀ باغ لګوم
پـۀ ګل مې وژنی پۀ ګلزار مې وژنی

ژۀ دَ دشمن نـه ګيله ولې اوکړم؟
چې پخپل کورکښې خوږبار مې وژنی

پۀ ما ئې ټول عمر خپل ورور وهلے
اوس دَ هغې ورور پۀ آزار مې وژنی

طـاهـرهٔ لاس مې ورور ترلې ورته
اوس پۀ رسۍ او کۀ په دار مې وژنی

د ملګري سرور خټک د نظم په جواب کښې

# نظم لړاو

پهٔ دې بې قدره چاپېرچل باندې چې تا لېکلي
دغه منمه چې به ستا دَ زړهٔ آواز دغه وي

دا هم منمه چې نن هر یو ښېز بې قدره دے خو
ستا دَ شعرونو تصویرونو قدر ما سره دے

چا وې چې خاوَرو کښې لت پت شولو ایرې ایرې شو
چا وې چې تس نس شو خزله شو زړې زړې شو

ختکه تهٔ دَ خپل قیمت مقام نه نهٔ ئې خبر
تهٔ دَ شاعر د ژوند دَ روڼ انجام ته نه ئې خبر

ته یو هیوه ئې یو رڼا ئې دَ ژوندون دَ تیرې
تهٔ یو پیغام ئې یو آواز ئې قافلې ته دَ ژوند

دیدار طاهر

پښتو ډاټ نېټ pukhtoo.net

تا صحرا ګانې ګلورينې کړې پخپل تخيّل
تا دَ ژوندون په ګلدره کښې يو هنګې جوړه کړه

تا دَ ژوندون پهٔ ميخانه کښې يو سرور پيدا کړو
تا پهٔ هستئ کښې دَ ژوندون يوه مستي پيدا کړه

دا ستا شعرونه چې نغمې دَ حريت دَ ژوند دی
تا تصويرونه دَ جانان دَ زړهٔ پهٔ وينو کښلی

دا ستا پيغام دَ حريت اعلان به ختم نشي
ستا دَ خلوص دَ قربانئ دوران به ختم نشي

زما شاعره سخنوره دَ رنګين تصور
هر څهٔ به ختم شي خو ستا داستان به ختم نشي

# غزل

لکه نمر غوندې دَ ذات په ځلا پائم
لکه ګل غوندې پخپله ښکلا پائم

دَ ژوندون دَ ښیرازۍ سندرې وائم
زۀ ژوند غواړمه دَ ژوند په ادا پائم

اے طاهرہ بې شعوره سړے ړوند وی
زۀ شاعر یم دَ شعور په رڼا پائم

دیدار طاهر

# دا وطن زما وطن

دَ رسمونو پهٔ وطن کښې
رواجونو پهٔ وطن کښې

دا ستا رنګ پيکه پيکه دے
دَ رنګونو پهٔ وطن کښې

زما ژوند ازغى ازغى دے
دَ ګلونو پهٔ وطن کښې

زمونږ حلق او شونډې وچې
د سيندونو پهٔ وطن کښې

خوب خندا پهٔ مونږ حرام دى
دَ خوبونو پهٔ وطن کښې

پهٔ قدم قدم مقتل دے
دَ دارونو پهٔ وطن کښې

شين لوګے دے سرې لمبې دى
دَ بمونو پهٔ وطن کښې

يو ميليه ده لګيدلې
د سرونو پهٔ وطن کښې

د اِنصاف پهٔ مرى ژاړو
دَ جرمونو پهٔ وطن کښې

ګلستان راته تنور شو
دَ اورونو پهٔ وطن کښې

يو بيګار دے غلامى ده
دَ فکرونو پهٔ وطن کښې

زندګى ده چې تيريږى
دَ رنځونو پهٔ وطن کښې

خوشحالى پسې ړاندهٔ شو
دَ غمونو پهٔ وطن کښې

پهٔ خارونو کښې مو ژوند دے
دَ ګلونو پهٔ وطن کښې

دَ خوبونو پهٔ تال زانګو
دَ خيالانو پهٔ وطن کښې

لوړى تندې دى تيريږى
دَ قرضونو پهٔ وطن کښې

څهٔ به وخاندو طاهره
دَ آهونو پهٔ وطن کښې

نظم

# دا ګلالی ځلمی زما د وطن

دَ چا چې تراړې تراړې شونډې ښکارې
دَ چا چې چاؤدې چاؤدې پوندې وینئ

دَ چا دَ مخه چې الوتے دے رنګ
د چا چې تور دَ سترګو هم سپین شوی

دَ چا پۀ تن پورې جامې چې نشته
دَ چا پۀ پښو پورې پېزار چې نشته

دَ چا دَ لوږې نه ګونې زېږې دی
دَ چا وښکې دَ ناخوالې نه وتي

څوک دَ رنځونو پۀ جبه کښې نخښتي
څوک دَ غمونو پۀ انبار کښې ډوب دی

څوک دَ انصاف دلاسه چغې وهي
څوک دَ قانون د بوج دَ لاندې ژاړي

څوک دَ رواج پۀ دار ختلے ښکاري
څوک دَ وختونو پۀ چپو کښې لاهو

دَ چـــامرې ده دَ زردار پــنجـه کښې
دَ چا مړوند دَ چا جابر پۀ لاس کښې

څوک جاګيردار دَ چا دَ ژوند خريدار
څوک پيسه وال دَ چا دَ ژوند ټيکه دار

څـوک چې پۀ خپل ځان هم اختيار نۀ لري
څوک چې پۀ خپل کار کښې هم کار نۀ لري

څوک چې رانده پۀ خوشحالو پسې شو
څا چې ټول عمر کښې سکون ونۀ ليد

دغـه بې اوره چې سوزېږي په ژوند
لـکـه دَګـلو چې رژېږي پۀ ژوند

دا بې سببه چې لـوګېږي پۀ ژوند
لکـه دَ واوري ويـلـي کېږي پۀ ژوند

دَ چا چې لخته ځواني مړاوې ښکاري
دَ چــاچې ګل بـدن سـکـروټه لګي

دغــه سپـيـره ګـلان زمـا دَ چـمـن
دا ګـلالــي ځـلمـي زمـا دَ وطـن

# سندره

دَ باجوړ دَ ناوکۍ ګلونه
زما یادیږی دَ ماخې ګلونه

فطرت شیندلی دی رنګونه
هر خوا ښکلا او ښائستونه
دی پۀ خندا او پۀ مستۍ ګلونه
زما یادیږی دَ ماخې ګلونه

هغه پشت دے کۀ چار منګ دے
ګرانه ارنګ دے کۀ برنګ دے
اُوری پۀ تهوله ایجنسۍ ګلونه
زما یادیږی دَ ماخې ګلونه

چپې چپې ګلونه خاندی
زړونۀ په تهال دَ هوا زانګی
کوی پۀ للمه کښې سیالۍ ګلونه
زما یادیږی دَ ماخې ګلونه



pukhto.net

دلتـه ګلان هلتـه ګلان دی
دا زور بـنـدر کـه راغه ګان دی
راتهٔ وکېدلی پـه بلی ګلونه
زمـا یـادیږی دَ مـاخی ګلونه

کـه بخت مُنیر کـه شیر عالم دے
پسـي مـي زړهٔ قـلـم قـلـم دے
ژاړی پـه مزګ دَ مېمونی ګلونه
زمـا یـادیږی دَ مـاضی ګلونه

څـهٔ دَ سـُنبل څـهٔ دَ غانټول دی
څـه دَ ریـدی څـهٔ دَ ماموِل دی
طـاهـرؔ راوړی دی جولی ګلونه
زمـا یـادیږی دَ مـاخی ګلونه



pukhto.net

# نظم
HANSEL

دَ اللّٰه په لویه زمکه
هر خوا نور دے تود سپرلے دے

نغمه خوان دی ابشارونه
سندریز دی نخترونه

چنارونه لمبه شوی
په مستۍ کښې دی سیندونه

سرۀ ګلونه په خندا دی
سرې غوټۍ دی چې غوړیږی

دَ رنګونو نوبهار دے
سپینې واوری دی وریږی

دَ فطرت په غیږ کښې زانګی
دَ هوا په تال رنګونه

دَ فطرت پدې ګاونډ کښې
عجیبه غوندې منظر دے

د اِنسان دَ لاسه وینم
بل انسان دے چې قتلیږی

دیدار طاهر

چـرتـه بـوئ دے دَ بـارودو
چـرتـه اور دے دَ بمـونو

هـر وګـړے زيـړ زبيـخبنلے
هـر خوا چغې دي او شور دے

تـهٔ بـه وائې چې قيامت دے
دا څـهٔ ژوند دے څهٔ حالت دے

دا دَ سـرو ويـنو رودونـه
چـقـيـدلـي سرهٔ مخونـه

دا سـر تـوري پـيـغلې جونـه
دَ ځـلـمو مو مات ځـوانـه

مـاشـومان دي حلاليږي
ځـي دَ سـرو ويـنو رودونـه

هـر ځـائے پيـبنه حـادثـه ده
عـجيبـه شـان تـمـاشـه ده

کـرشـمـه دَ لـوَړ کـمـال ده
دا تـحـفـه دَ نـوي کـال ده

# نظم

زۀ تر اوسه دَ خپل ځانه خبر نۀ یم
ددې خپل وجود احساس راسره نشته

لا تر اُوسه زۀ دَ خپل ځان پۀ لټون یم
لا تر اوسه زمانې دَ ځانه ورک یم

زۀ به څنګه خپل منزل او مرام مومم
چې نۀ لار او نۀ طرف راته معلوم دے

هسې خوشې دَ ژوندون پۀ سفر درومم
بې مقصده لا حاصله زما یون دے

یا خو زه دَ زمانې دَ روح اُستاد ووم
یا خو دغه زمانه راپورې خاندي

زۀ به څنګه تېر جلال او جمال خپل کړم
زۀ به څنګه مرور بخت راپخلا کړم

دَ ماضـى دَ پلار نيکهٔ خبرې اورم
ولـى مـا سره اِدراک دَ صبا نشته

زهٔ بې خوده دَ غفلت پهٔ خوب اُودهٔ يم
خوار حيران دَ وخت پهٔ لاسو کښې تاله يم

هميشه دَ خپل قسمت د لاسه ژاړم
دَ همت جرأت مې پښې لاسونه شل دی

بيرونـىؔ او فارابىؔ ژوندى کومه
بوعلىؔ او هيشمؔ بيا راپادومه

پـخوانـے دَ علم تاج پهٔ سَرومه
خپل رازىؔ او سِيّنا بيا راپاسومه

زهٔ پښتون يم دَ ازله پهلوان يم
مسلمان يم دَ قامونو جالوان يم

زهٔ ورځمه دغه تخت تاج به زما وى
يو ځل بيا پدې نړى راج به زما وى



طاهرہ نور اور ورکی نه نبسم
اوس به دَ ستورو نه جولۍ ډکووم

دیدار طاهرؔ دَ یوې مودې راسې دَ مورنۍ ژبې دَ ناوې په لمن دَ سینګار ستوری تَک وهي. غزل، نظم او سندره دَ هغه دَ معروضي اؤ موضوعي شاعرۍ للمی اؤ دامانی دی. چې دَ فکری پوخوالي اؤ هُنری اعتماد بارانونو ته لېواله پرتې دی.

دَ دیدار طاهرؔ غزل دَ هغه دَ قلبي وارداتو بربنډ اظهار ضرور دے. ولې دَ عصري شعور سرهٔ پکښې جوت نهٔ دی. علامات، تلمیحات لنډبحرونه اؤ خُنی نور فني محاسن پکښې شته. خو غزل ته ئې دَ تغزل په لور مزل لا پغاړه دے.

نظم ئې دَ مقصدیت دَ درد په خوږو لړلې دے......دَ معنی اؤ مطالبو رېوزی پکښې ښکاري. خو دَ څرګندوني جمالیاتي اړخ ئې دَ الفاظو انتخاب اؤ دَ قافیو مجبورو تکنے کړے دے.

سندریزې هڅې دَ هغه شعوری زیار کښې ده. چې دَ فولکلوری روایت دَ بقاء په اړوند وزن لري. خو دَ زور، رواني، سادګۍ اؤ اثر په حواله رغۍ اؤ سرسری دی. څه چې دَ پښتو سندرې روح بللې کېږي. بیا هم دَ دیدار طاهرؔ دغه مښود دَ ستائینې وړ دے.

ډاکټر علي خیل دریاب
ګورنمنټ ډګری کالج
بټ خیله